# تقریر اصول الشاشی

مرتب

بندہ ناچیزہاشم علی بن زرکمین(مرحوم)

چکدرہ دیر

الحمدلله رب العالمين والصلوة والسلام على سيدالمرسلين قائدالمجاهدين سيدالانصاروالمهاجرين

امابعد

فاعوذبالله من الشيطن الرجيم ـ ـ بسم الله الرحمن الرحيم

دهرفن دشروع کولونہ مخکی پنځه خبری یادول ضروری دی ـ تعریف ، موضوع ، غرض ، تدوین ، حالات دمصنف ـ

**تعریف د اصول الفقہ** ـ اصول جمع د اصل ده لغت کی اصل وایی بنیاد تہ اواصطلاح کی اصل وایی دلیل اوقایده کلیہ تہ ـ فقہ لغت کی پوهیدوتہ وایی اواصطلاح کی هغہ خبره پیژندل چہ انسان لره پہ دنیااواخرت کی ده پایدی یاده نقصان وی ـ نو**اصول الفقہ** هغہ قوایدوتہ وایی چہ هغی سره مجتهد د دلایل تفصیلیہ نہ احکامات را اباسی ـ **موضوع** ده اصول الفقہ دلایل اواحکام دی ددی حیثیت نہ چہ دلایل ثابتونکی دی احکام لره او احکام ثابت کړے شوی دی د دلایل نہ ـ غرض ده دلایل شرعیہ نہ احکام راوستلوکی مهارت پیداکول ـ

**تدوین د علم اصول الفقہ** څنګہ چہ دعلم فقہ مدون اول امام ابوحنیفہ رحمہ الله دے دغسی هغہ د اصول الفقہ تدوین هم کړے دے ځکہ چہ د مسایل استنباط بغیرد اصول او قواعدنہ ناممکن دے ـ **حالات دمصنف** نوکتاب اصول الشاشی باندی مصنف پہ حیثیت د مصنف خپل نوم نہ دے لیکلے ـ البتہ بعض علماء وایی چہ دده نوم اسحاق ابراهیم الشاشی السمرقندی دے پہ ۳۲۵ هجری کی وفات شوے دے کنیہ دده ابوابراهیم دے شاش ده ماوراء النهر پہ خارونو کی ده یوخار نوم دے ـ

**اصول ده فقہ** څلوردی ـ کتاب الله ، سنت ، اجماع ، قیاس ـ کتاب الله نہ مراد هغہ ۵۰۰ ایاتونہ دی کمہ چہ د احکام شرعیہ بنیاد دے او سنت نہ مراد هغہ ۳۰۰۰هزار احادیث دی چہ ده احکام شرعیہ بنیاد دی ـ اجماع نہ مراد اجماع ددی امت د مجتهدین اجماع ده ـ قیاس نہ مراد قیاس شرعی دے چہ کتاب الله یا سنت یا اجماع نہ ماخوذ وی ـ **وجہ ده حصر** پہ دی څلوروکی داده چہ حکم بہ یاثابت وی وحی نہ یاغیروحی نہ کہ وحی نہ ثابت وو نو یابہ وحی متلو وی یاغیرمتلو کہ وحی متلووه نوکتاب الله اوکہ غیرمتلووه نوسنت اوکہ حکم ثابت ووغیروحی نہ نویابہ اجتهادنہ ثابت وی یاغیراجتهادنہ کہ اجتهادنہ ثابت وونویابہ د ټولومجتهدینواجتهادوی یاده بعض کہ ده ټولو وو نواجماع اوکہ ده بعض وو نو قیاس او کہ حکم ثابت وو غیراجتهادنہ نودابہ متروک وی اوحجت بہ نہ وی ـ

## البحث الاول فی کتاب الله

مصنف رحمہ الله پہ دلایل کی بحث د کتاب الله مخکی کړو ځکہ دا پہ وجوداومرتبہ کی مځکی دے ـ
**تعریف دکتاب الله** المنزل على الرسولالمکتوب فی المصاحف المنقول الینانقلامتواترا بلاشبهة ـ یعنی قران هغہ کتاب دےچہ اسمان نہ پہ نبی علیہ السلام باندی نازل شوے دے اوپہ مصاحف کی لیکلے شوے دے اونقل شوےدے مونږتہ پہ تواترسره بغیرده شک اوشبہ نہ ـ بیا د قران الفاظ اوعبارت چہ دیتہ نظم د قران وایی پہ دیکی څلور تقسیمات دی ـ (۱) تقسیم پہ اعتبار د وضع د لفظ سره دے داپہ څلورقسمہ دے

خاص ، عام ، مشترک ، مؤل وجہ د حصر پکی داده چہ لفظ بہ پہ اعتبار د وضع سره یاپہ یوه معنہ دلالت کویی یاپہ ډیروکہ پہ یوی معنہ یی دلالت کوونویابہ ورسره نورافرادشریک کیدیشی یانہ کہ د نورافراد دشرکت نہ پاک وو نوخاص اوکہ نورافرادورسره شریک کیدیشونوعام ۔ اوکہ دغہ لفظ دلالت پہ ډیرومعنوکوونویابہ یویی معنی لره ترجیح ورکولےشی یانہ کہ ورکولےشوه نومؤل اوکہ نشوه نومشترک ۔

## فصل فی الخاص والعام

مصنف رحمہ الله دی فصل کی خاص اوعام یوزایی ذکرکوی وجہ داده چہ خاص اوعام پہ دی خبره کی شریک دی چہ دوانړه وضع شوی ده یوی معنی د پاره ۔ فالخاص لفظ وضع دی سره تعریف ذکرکویی ده خاص چہ دایولفظ دےچہ وضع شوے وی ده یوی معنی معلومی یایومعلوم شخص دپاره ۔ کقولنافی تخصیص الفرد دی سره اشاره کوی تقسیم د خاص تہ چہ خاص پہ دری قسمہ دےخاص الفرد ، خاص النوع ، خاص الجنس ۔ خاص الفرد هغہ لفظ چہ یومعینہ معنی لره وضع شوےوی لکہ زید عمر بکر ۔ خاص النوع چہ پہ داسی افراد صادقیږی چہ د هغی اغراض اوفوید متفق اویووی لکہ رجل نودے لایق ده امامت وغیره دے ۔ خاص الجنس چہ صادقیږی پہ داسی افرادچہ د هغی اغراض اوفوایدجدااومختلف وی لکہ انسان چہ ده رجل اغراض جدا او ده ځځو جدا دی ۔

والعام کل لفظ ینتظم دی عبارت سره تعریف ذکرکوی ده عام چہ عام هغہ لفظ دے چہ شاملیږی ډیرافرادتہ یاپہ اعتبارد لفظ سره یاپہ اعتبارد معنی سره کہ پہ اعتبارده لفظ سره وی نودیتہ عام لفظی وایی لکہ مسلمون اوکہ پہ اعتباردمعنی سره وی نودیتہ عام معنوی وایی لکہ رهط ، قوم ۔ بیایودی افراد اوبل دی اجزاءدیکی فرق دے ۔ هر څیزپہ خپل افرادکی پہ هرفردصادقیږی لکہ دانسان افرادزید عمربکردی دیکی هریوفردتہ انسان وایی خوهرڅیزپہ خپل اجزاءکی پہ هرجزنہ صادقیږی لکہ د انسان اجزاءدی لاس ، خپہ وغیره نودیکی یوتہ هم انسان نہ وایی ۔

وحکم الخاص من الکتاب دی عبارت سره مصنف رحمہ الله حکم ذکرکوی ده خاص نوحکم دخاص دادےچہ خاص دکتاب الله کمہ لفظ پہ کمہ خصوصی معنہ باندے دلالت کوی نوعین پہ هغہ خصوصی معنی باندی عمل کول لازم اوواجب دی ۔ اس کہ چرتہ دی سره ده خبرواحدیاقیاس تعارض راغےنوکہ دی دوانړوکی تطبیق ممکن وویعنی پہ دوانړوباندی عمل ممکن وونوصحیح ده اوکہ تطبیق ممکن نہ وونوبیابہ خبرواحداوقیاس پریخودےشی اوعمل بہ پہ کتاب الله کیږی ۔ زکہ خاص پہ خپلہ معنی باندی دلالت پہ قطعی اویقینی طورسره کویی اوخبرواحداوقیاس قطعی اویقینی نہ دی ۔ مثالہ فی قولہ تعالی یتربصن دی عبارت سره مثال ذکرکویی ۔ پہ اعتبارده عدت سره د مطلقوزنانوڅلورقسمہ دی ۔ اول هغہ چہ طلاق بعدالنکاح اوقبل الدخول وی نوپہ دی عدت نشتہ ۔ دویم چہ طلاق بعدالدخول وی اوداحاملہ وی نوعدت ددی وضع دحمل ده ۔ دریم هغہ چہ طلاق بعدالدخول وی خوددی حیض نہ رازی یاد وجہ ده صغرنہ یاکبرنہ نوددی عدت دری میاشتی دے ۔ دریم هغہ چہ طلاق بعدالدخول وی اوحیض یی رازی نوددی پہ عدت کی اختلاف دے احناف وایی چہ ددی عدت دری حیضہ دےاود شوافع پہ نزدری طهردے ۔ دلیل د دوانړودپاره دا ایات دے چہ والمطلقت یتربصن بانفسهن ثلثۃ قروء دلتہ قروءجمع ده

مفردیی قرء رازی په معنه دحیض اوطهردوانړوسره دے ۔ که په معنه د طهرسره شی نودابه مذکروی اوکه په معنی دی حیض سره وی نودابه مؤنث وی ۔ د امام شافعی رحمه الله په نزطهرمراد دے اواحناف په نزحیض ۔ دلیل د امام شافعی رحمه الله دادے چه د عربی قاعده داده چه ۳ نه ۱۰ پوری عددمذکربه هله راوړی چه کله ددی معدودده مؤنث جمع وی ۔ لکه خمس بنات ۔ اودغه عددبه مونث هله راوړی چه کله معدودجمع ده مذکروی لکه خمسة رجال ۔ دلته ایات کی ثلثة عددمؤنث دے ددی وجه نه ددی معدودچه لفظ د قروء دے جمع د مذکرده اوجمع ده مذکرهغه وخت کیدیشی چه قرءپه معنه د حیض سره نشی بلکه طهرسره شی اوحیض مؤنث دے نومعلومه شوه چه دلته مراد د قروء نه طهردےنودمطلقےمذکورےعدت دری طهره شو ۔ احناف وایی چه کتاب الله کی ثلثه لفظ خاص دے اویوه معینه معنه باندی دلالت کویی چه هغه پوره دری دی کم یا زیات نه اس که قروء نه طهرواخلی نوبیادری پوره طهره نه رازی ځکه چه کم طهرکی طلاق ورکړی نویابه هغه ورسره شماری یانه که شماری نودوه نیم رازی اوکه نه شماری اوبل مستقل طهرورله وےنوبیادری نیم رازی ۔ نوحاصل داشوچه شوافع په نز دریم حیض شروع کیدوسره عدت ختم شواواحناف په نزچه کله دادریم حیض ختم شی نوعدت به پوره شی یعنی ده احناف په نزدریم حیض کی دابنځه په عدت کی ده لابهرشوی نه ده اوشوافع په نزدریم حیض په وخت کی دابنځه ده عدت نه بهر ده ۔ اس راروان عبارت <u>فیخرج علی هذا</u> سره په دغه حاصل باندی مسلی تفریع کویی (۱) <u>حکم الرجعة</u> چه یوسړی ښځی له یویادوه طلاق رجعی ورکړی دی نودریم حیض کی په نزده احناف رجوع کولےشی ځکه عدت نه دےپوره اوپه نزده شوافع نشی کولے ځکه عدت پوره دے۔(۲)<u>وتصحیح نکاح</u> چه په نزدشوافع دابنځه په دریم حیض کی بل نکاح کولے شی ځکه عدت ختم دے اواحناف په نزنشی کولےځکه عدت لاندےختم ۔(۳)<u>وحکم الحبس</u> ده شوفع په نزدغه خزه په دریم حیض کی عدت والاکورنه تلےشی اواحناف په نزنشی تلے۔(۴)<u>والمسکن والانفاق</u> ده شوافع په نزپه دریم حیض کی په خاوندباندی دغی ښځي له خرچه ورکول نشته اوپه نزده احناف لازم دی۔(۵)<u>والخلع والطلاق</u> ده شوافع په نزپه دریم حیض کی خاوندخلع اوباقی طلاقونه نشی ورکولےاوپه نزداحناف باندےکولےشی۔(٦)<u>وتزوج الزوج باختها</u> دشوافع په نزددی ښځي په دریم حیض کی ددی ده خورسره نکاح کولےشی اوپه نزداحناف باندی نشی کولے۔(۷)<u>واربع سواها</u> شوافع په نزددی ښځي په دریم حیض کی ددی نه علاوه څلورښځوسره نکاح کولے شی اواحناف په نزنشی کولے۔(۸)<u>واحکام المیراث مع کثرة تعدادها</u> که ددی ښځی په دریم حیض کی دغه خاوندوفات شونوپه نزدشوافع باندی په دی ښځه باندی عدت وفات تیرول نشته اونه ورله میراث کی حصه میلاویږی اواحناف په نزدابنځه به عدت وفات هم تیروی اومیراث کی ورته حصه هم میلاویږی۔

<u>وکذالک قوله تعالی قدعلمنامافرضنا</u> دی عبارت سره مصنف رحمه الله دویم مثال ذکرکوی دپاره دخاص چه خاص دکتاب الله په کمه معینه معنی باندی دلالت کوی په هغی باندی عمل کول لازم دی۔ مثال لکه <u>قدعلمنامافرضنا</u> احناف په نزپه شریعت کی دمهردپاره یوخاص مقدارمقرردے چه دهغی نه په کمه باندی نکاح نه ده صحیح ځکه چه په دی ایات کی لفظ دفرضناخاص دےدلالت کوی په یومعینه معنی باندی چه مقررکول دی بیاددی نسبت شوےدےالله ته نوداحکم شرعی دےالبته خبره داده چه هغه مقررمقدارسه دےنوهغه دلته نه دےواضح دی باره کی داایات مجمل دےددی بیان په حدیث دجابررضی الله عنه کی دےچه <u>لامهراقل من عشرة دراهم</u> یعنی مهربه دلس(۱۰)دراهم نه کم نه وی نودمهرکم مقدارمقررشوچه

لس دراهم دی ـ امام شافعی رحمہ اللہ فرمایی چہ نکاح پشان دعام بیوع دےچہ بیع کی طرفین پہ کم قیمت باندی رضاشی نوهغہ بہ وی هغہ چہ هرسومره وی دغسی پہ نکاح کی هم چہ سومره یی خوخ وی نومقررکولےشی ددی جواب دادےچہ نکاح پشان دبیع نہ ده ځکہ چہ بیع کی عوض مطلقاحق دبنده وی اونکاح کی مهرمطلقاحق ده ښځی نہ وی بلکہ من وجہ حق داللہ هم دےنوکہ ښځہ اوایی چہ زه بغیرده مهرنہ نکاح کوم نو نہ کیږی البتہ بیارستہ معاف کولےشی ۔اوبیع کی چہ څوک چالہ هسی مبیعہ ورکول غواړی نوورکولےشی۔ وفرع علی هذاان التخلی مخکی دامام شافعی رحمہ اللہ مسلک بیان شوچہ نکاح پشان دعقدمالی دےپہ دی مسلک باندی اس مسلی تفریع کوی(۱)داچہ څنګہ عقودمالیہ یعنی خریدفروخت کی مشغولہ کیدونہ نفلی عبادت غوره دےدغسی دنکاح پہ زایی نفلی عبادت غوره دے(۲)داچہ څنګہ عقدمالی انسان پہ خپل اختیارچہ څنګہ یی خوخہ وی ختمولےشی دغسی نکاح هم سرےچہ څنګہ یی خوخہ وی ختمولےشی کہ دری طلاقہ پہ یوطهرکی ورکوی اوکہ دری طلاقہ پہ جداطهرونوکی ورکوی ټول جایزاومباح دی۔(۳)داچہ څنګہ بیع پہ اقالےسره بالکل فسخ کیږی دغسی نکاح پہ خلع سره بالکل فسخ کیږی یعنی کہ اس دوی دباره نکاح کول اغواړی نوداسرےبیاده دری طلاقومالک دے۔جوابونہ ده تفریعاتودشوافعو (۱)چہ نکاح کی فوایددنیوی اودینی ډیردی ـ دی وجہ نبی علیہ السلام دیتہ نصف دین ویلی دی۔اوفرایض،واجبات،سنت نہ فراغت نہ رستہ باقی اوقات خپل بچوسره تیرول بهتردی۔(۲)چہ نکاح پہ شرعی طریقی سره ثابت ده نوددی ختمول هم شرعی طریقی سره پکار دی یعنی یوطهرکی یوطلاق ورکول۔(۳)چہ خلع طلاق باین دےاس نوردوه طلاقہ باقی دی۔وکذالک قولہ تعالی حتی تنکح زوجاغیره دی عبارت سره دریم مثال ذکرکوی ده عمل پہ حکم دخاص باندی۔دلتہ مسلہ داده چہ د ولی داجازت نہ بغیرښځہ خپل نکاح پخپلہ کولے شی کنہ۔نوداحناف پہ نزکہ دابالغہ وه بیاباکره وی کہ ثیبہ داپخپلہ خپل نکاح کولے شی۔شوافع پہ نزکہ داثیبہ وه بیاکہ بالغہ وی اوکہ نابالغہ نوکولے شی۔دلیل دشوافع خبرواحددےچہ نکحت نفسهابغیراذن ولیهافنکاحهاباطل احناف وایی چہ داخبرواحدخلاف دےدکتاب اللہ چہ حتی تنکح زوجا دےدلتہ تنکح صیغہ دواحدمونث غایب ده دیکی نسبت دنکاح شوےدےضمیرطرف تہ اودغہ ضمیروضع شوےدےخاص ده زنانہ لپاره نومعلومہ شوه چہ دغہ ښځہ خپل نکاح پخپلہ کولے شی۔البتہ کہ نابالغہ وه نوبیادولی اجازت لازمی دےزکہ ددی عقل تام نہ دے۔ ویتفرع منہ الخلاف فی حل الوطی دی سره مسایل تفریع کوی پہ دی قایده باندی چہ کلہ یوه بالغہ زنانہ ده ولی داجازت نہ بغیرنکاح اکی نوداحناف پہ نزداصحیح ده اوشوافع پہ نزنہ ده صحیح۔(۱)داچہ دغہ زنانہ سره ده خاوندوطی جایزده(۲)خاوندباندی دی لره نفقہ سکنیٰ مهرلازم دے(۳)کہ خاوندطلاق ورکول غواړی نوورکولےشی(۴)کہ خاونددری طلاقہ ورکړی نوبغیردحلالےنہ دلره جایزنہ ده ـ پہ نزده شوافع باندی پہ دا ټول صورتونہ نہ دی صحیح زکہ نکاح ده سره شوے نہ ده ـ

واماالعام فنوعان دی عبارت سره دوه اقسام ذکرکوی دعام چہ عام هغہ دےچہ شامليږی ډیرافرادتہ دی وجہ نہ عام باندی چہ کمہ حکم لږی هغہ بہ ټول افرادتہ شامل وی۔البتہ کلہ داسی هم کیږی چہ یوداسی دلیل وی چہ عام نہ بعض افرادپہ دغہ حکم کی پاتی کړی اوبعض خارج کړی ـ کمہ عام نہ چہ افرادخارج شوهغی تہ عام مخصوص البعض وایی۔ لکہ اقتلوالمشرکین ولاتقتلواهل الذمۃ پہ دی مثال کی المشرکین لفظ عام دےحکم ده قتل پری لږیدلےدےالبتہ ددی حکم نہ اهل الذمۃ خارج کړےشوی دی چہ دوی مہ قتل کوے۔اوصرف حربی کافر یی خاص کړوپہ قتل سره ۔نودلتہ المشرکین عام مخصوص

البعض دے ۔دویم قسم عام غیرمخصوص البعض دےچہ عام پہ خپل عموم باندی باقی پاتی وی اویوفرد تری هم نہ وی خارج شوےلکہ ان الله بکل شیءعلیم دلتہ کل شیء عام دےافرادتری نہ دی خارج شوی چہ پہ دغہ افرادباندی علم د الله نشتہ ۔ بلکہ پہ هریوڅیزباندی الله عالم دے۔

فالعام الذی لم یخص عنہ شیء دی عبارت سره حکم ذکرکوی ده عام غیرمخصوص البعض چہ داپہ عمل کی پشان ده خاص دےپہ نزداحناف یعنی چہ سنگہ عام پہ خپلہ معنی باندی قطعی اویقینی دلالت کوی اوعمل پری واجب دےدغسی داقسم دعام هم دےدی وجہ نہ پہ خبرواحدیاقیاس سره ددی ده حکم نہ بعض افرادبهرکول یعنی تخصیص پکی کول نہ دی جایززکہ چہ قیاس اوخبرواحدظنی دےاوعام غیرمخصوص البعض قطعی اویقینی دے۔اوشوافع وایی چہ هرقسم دعام کی تخصیص کیدیشی دی وجہ نہ عام خپل افرادتہ ظنی طورباندی شامل دےقطعی اویقینی طورباندی نہ اودی باندی بہ عمل هم ظنی طورباندی کیږی قطعی اویقینی طورباندی نہ ددی وجہ نہ ددی تخصیص پہ خبرواحداوقیاس سره جایزدے۔احناف جواب کوی چہ یولفظ یومعنی لره زکہ وضع کیږی چہ کلہ دغہ لفظ اویلےشی نودغہ معنی بہ مرادوی اس کہ دغہ عام چہ کمہ معنی لره وضع شوےدےاودغہ معنی تری یقینی طورباندی نشی اغستے نودی معنی لره دغہ لفظ وضع کول بےفایدی دی۔

وعلی هذاقلناقطع یدالسارق دی مذکوره قایده دوجہ نہ چہ عام باندی عمل کول واجب دی قطعی طورسره امام شافعی رحمہ الله فرمایی چہ یوسړی دبل مال غصب کواودغہ مال دده سره هلاک شونوپہ د باندے ضمان شتہ زکہ ده پردےمال هلاک کودغہ شان کہ ده غل سره پردےمال هلاک شوده لاس کٹ کولونہ مخکی یا رستہ نوپہ ده باندی هم ضمان شتہ زکہ ده هم پردے مال هلاک کو۔احناف جواب کویی چہ کہ غل سره مال هلاک شونوضمان پہ ده باندی نشتہ زکہ ایات والسارق والسارقۃ کی بماکسبا کی ماعام دےسرقےاوهلاکت تہ نوقطع ده ید سزاشوه ده سرقےهم اوهلاکت هم ۔ اس کہ چرتہ ضمان لازم کونوقطع ده ید بہ سزاشی صرف ده سرقےنولفظ د ما چہ عام دے پہ عمل انہ شودی وجہ نہ د سرقے قیاس کول پہ غصب باندی نہ دی صحیح ۔ اس دلتہ مونږ اوی چہ بماکسبا کی ماعام دے ددی دلیل قول دامام محمدرحمہ الله چہ یومولیٰ خپلی وینځی تہ اوی چہ ان کان مافی بطنک غلامافانت حرۃ اوبیایی یوهلک اویوه جینی اشوه نودغہ وینځہ نہ ده ازاده زکہ د مالک دقول مطلب دادے چہ ددی داتول بطن بہ صرف پہ هلک مشتمل وی اوهغہ خوپکی جینی هم وه ۔

وبمثلہ نقول دادویم مثال ذکرکوی پہ عموم دماباندی مسلہ داده چہ شوافع وایی چہ مونځ بغیرده قرات ده فاتحی نہ ندےصحیح اودلیل داحدیث وایی چہ لاصلوۃ الابفاتحۃ الکتاب یعنی مونځ بغیرده قرات ده فاتحی نہ ندے صحیح ۔ احناف وایی چہ صحیح دے زکہ قران کی دی چہ فاقرءوماتیسرمن القران دی ایات کی لفظ د ما عام دے یعنی قران کی چہ کوم زایی اسان وی ده هغی تلاوت کولوسره مونځ کیږی نو ما شامل دےټول قران تہ اودیکی فاتحہ هم راغلہ دی نہ معلومہ شوه چہ دمانځہ جوازموقوف نہ دےپہ فاتحہ باندے ۔ اس پہ قران اوحدیث کی تطبیق ممکن دےیعنی پہ دوانړوباندےعمل راتلےشی هغہ داسی چہ حدیث کی لفظ د لا دپاره د نفی دکمال شی یعنی مونح بغیردقرات د فاتحی نہ کامل نہ دےاوکوم څیز باندےچہ کمال رازی د هغی لحاظ ساتل واجب دی ۔ دی وجہ نہ مطلق قرات پہ مانځہ کی فرض دےده وجہ دایات نہ اوقرات د فاتحی واجب دےده وجہ د حدیث نہ ۔

وقلناکذالک فی قولہ تعالیٰ ولاتاکلوممالم یذکراسم اللہ علیہ دی سرہ مثال ذکرکویی ددی چہ کلہ دکتاب اللہ پہ مقابلہ کی خبرواحدراشی نوکہ تطبیق ممکن نہ وی نوعمل بہ پہ کتاب باللہ کیږی اوخبرواحدبہ پریخودے کیږی ۔ دلتہ مسلہ دادہ چہ یومسلمان نہ دہ ذبح پہ وخت بسم اللہ قصدا یاپہ هیرہ پاتی شی نودغہ ذبیحہ حلالہ دہ کنہ احناف پہ نزکہ پہ هیرہ پاتہ شوی وہ نوحلالہ دہ اوکہ قصدا یی پاتی کړی وہ نوحرامہ دہ ۔امام مالک رحمہ اللہ فرمایی چہ دوانړوصورتونو کی حرامہ دہ ۔ ځکہ دی ایات کی لفظ د ما عام دے قصدا اوپہ هیرہ پریخودل دوانړوتہ شامل دے۔امام شافعی رحمہ اللہ فرمایی چہ پہ دوانړوصورتونوکی حلالہ دہ ځکہ حدیث کی رازی نبی علیہ السلام نہ تپوس شوےووپہ بارہ دہ متروک التسمیہ قصداکی نونبی علیہ السلام جواب ورکړوچہ کلوہ فان تسمیۃ اللہ فی قلب کل امراء مسلم دینہ معلومہ شوہ چہ متروک التسمیہ قصداحلالہ دہ اوچہ داحلالہ شوہ نوپہ هیرہ پریخودلو پہ صورت کی پہ طریقہ اولیٰ سرہ حلالہ دہ ۔ دلیل داحناف دادےچہ دغہ ایات ولاتاکلوممالم یذکر داپہ بارہ د متروک التسمیہ قصداکی دےپہ هیرہ بسم اللہ پریخودل دیکی نہ دی داخل ځکہ څنګہ چہ روژہ پہ هیرہ باندی نہ ماتیږی دغسی دغہ ذبیحہ چہ پہ هیرہ پری بسم اللہ انہ ویلے شوہ داهم نہ حرامیږی بلکہ حلالہ دہ۔ دویمہ وجہ دادہ چہ ایات کی لم یذکر راغلے دےمطلب داچہ قصدا انہ وایی لم یتذکر نہ دےذکرچہ مطلب یی دادے چہ یاد نہ یعنی پہ هیرہ انہ وایی ۔ حاصل داچہ ایات نہ معلومیږی چہ متروک التسمیہ قصداحرامہ دہ اوحدیث نہ معلومیږی چہ متروک التسمیہ قصداحلالہ دہ نوتعارض راغے پہ کتاب اللہ اوخبرواحدکی اوتطبیق ممکن نہ دےدی وجہ نہ خبرواحدبہ پریخودلےشی اوعمل بہ پہ کتاب اللہ کیږی چہ متروک التسمیہ قصدا داحرامہ دہ اومتروک التسمیہ ساهیاحلالہ دہ ۔ لانہ لوثبت الحل بترکها دی سرہ مصنف رحمہ اللہ بلہ وجہ ذکرکوی دہ خبرواحدپریخودو د پارہ چہ کہ حدیث د وجہ نہ متروک التسمیہ قصداحلالہ شی نوساهیا بہ پہ طریقہ اولیٰ سرہ حلالہ وی ۔ نوبیا دا ایات ولاتاکلوما ددی سہ مطلب پاتی شوداخوبیا منسوخ ګرزی اونسخ د کتاب اللہ پہ خبرواحدسرہ نہ دے جایز۔وکذالک قولہ تعالیٰ وامهاتکم اللاتی ارضعنکم دی سرہ دویم مثال ذکرکویی ددی چہ کلہ د کتاب اللہ پہ مقابلہ کی خبرواحدراشی اوتطبیق ممکن نہ وی نوخبرواحدبہ پریخودیشی دلتہ ایات کی ارضعنکم عام دےهرپی ورکونکی زنانہ تہ شامل دے هغہ کہ لګ پئ ورکړی وی ماشوم لہ اوکہ ډیرخودغہ ماشوم باندی دغہ ښځہ حرامہ دہ یعنی حرمت د رضاعت ثابت دےاودامسلک دے دہ احناف اویوروایت دےدامام محمداوامام مالک رحمهم اللہ البتہ حدیث کی رازی چہ لاتحرم المصۃ ولاالمصتان ولاالاملاجۃ ولاالاملاجتان یعنی یوګوټہ یادووګوټونودہ پیوسرہ یایوځل سینہ ماشوم خولہ کی داخلول یادوہ ځلہ دی سرہ حرمت رضاعت نہ ثابتیږی دی وجہ نہ امام شافعی رحمہ اللہ فرمایی چہ حرمت رضاعت کم ازکم پنځہ ګوټونودہ پیوسرہ رازی ددی نہ کم سرہ نہ ثابتیږی ۔ نوایات سرہ حرمت درضاعت ثابتیږی پہ مطلق پئ ورکولوسرہ هغہ کہ لګ وی اوکہ ډیر۔اوحدیث نہ ثابت شوچہ لګ رضاعت سبب د حرمت نہ دے لکہ یویادوہ ګوټہ ۔ نوتعارض راغے پہ مینځ د کتاب اللہ اوخبرواحد کی۔اودلتہ تطبیق هم ممکن نہ دےدی وجہ خبرواحدبہ پریخودے شی اوعمل بہ پہ کتاب اللہ کیږی۔اس دلتہ یواعتراض رازی چہ مدت دہ رضاعت نہ رستہ پئ ورکولوسرہ بالاتفاق حرمت رضاعت نہ ثابتیږی دی وجہ نہ داایات عام مخصوص البعض شودغہ صورت ددی ایات نہ خاص شواود عام مخصوص البعض تخصیص پہ خبرواحدسرہ جایزوی۔وجہ نہ ددی ایات نہ دی داهم خاص کړےشی کنہ چہ یویادووګوټونوسرہ حرمت د رضاعت نہ ثابتیږی۔جواب دادے چہ مدت رضاعت کی ماشوم لہ پئ ورکولوسرہ دہ ماشوم نشونما کیږی اومدت رضاعت نہ رستہ

نہ کیږی۔دی وجہ دغہ صورت ددی ایات نہ نشی خاص کیدے۔ واماالعام الذی دی سرہ مصنف رحمہ اللہ دعام دویم قسم ذکرکوی چہ هغہ عام مخصوص البعض دے ددی حکم ذکرکوی چی کلہ عام کی تخصیص اشی یعنی بعض افرادتری خاص کړے شی نواس دغه عام قطعی الدلالت نشوبلکہ ظنی شو۔دی وجہ نہ ددی تخصیص پہ خبرواحد سرہ جایزدے۔دہ عام پہ باقی افرادباندی عمل واجب دے ددی احتمال سرہ چہ کیدیشی ددی نہ نورافراد هم خاص کړے شی دغہ افرادکہ معلوم وی لکہ اقتلوالمشرکین ولاتقتلواهل الذمۃ اوکہ مجهول وی لکہ اقتلوالمشرکین ولاتقتلوبعضهم ۔اس پہ دی عام کی بہ تخصیص تر کمہ پوری کیږی یعنی سوافراد ددی عام نہ لاندی پریخودل لازم دی نوکہ دغہ عام پہ اعتباردصیغی اومعنی دوانړوسرہ جمع وہ لکہ رجال چہ ددی اطلاق دہ دریو۳نہ ترلس ۱۰ پوری کیږی یاپہ اعتباردصیغی سرہ مفردوی اوپہ اعتباردمعنی سرہ جمع وی لکہ قوم ، رهط چہ ددی اطلاق دہ دریو۳نہ ترنهو۹ پوری کیږی نودیکی تر دریو۳پوری تخصیص کولے شی ددی نہ بعد پکی تخصیص کول جایز نہ دی ۔وانماجازذالک لان المخصص الذی دی سرہ دلیل ذکرکوی ددی چہ کمہ عام کی تخصیص اشی پہ دلیل قطعی سرہ نودینہ رستہ باقی افراد کی تخصیص پہ خبرواحدیاقیاس سرہ جایز دےدلیل دادے چہ کہ دغہ خاص کړے شوی افراد مجهول وی لکہ اقتلوالمشرکین ولاتقتلوبعضهم کی دابعضهم مجهول دےدی وجہ نہ مشرکین لاندی چہ څومرہ افراد دی هغی ټولوکی دااحتمال دےچہ دادی پہ اقتلوحکم کی داخل شی اودااحتمال هم دے چہ دادی تری خارج شی نوددی احتمال دوجہ نہ داعام پہ خپل افرادباندی قطعی طریقی سرہ دلالت نہ کوی بلکہ ظنی طریقی سرہ کوی نوپہ خبرواحدیاقیاس سرہ ددی تخصیص جایزشوځکہ داهم ظنی دی ۔ اوکہ چرتہ دغہ خاص افراد معلوم وی لکہ اقتلوالمشرکین ولاتقتلواهل الذمۃ دلتہ دا اهل الذمۃ معلوم دی چہ صرف ذمیان کافرمراد دی ۔ اس دا افراد چہ ددی حکم دہ قتل نہ خارج اوخاص شوی دی نودی کی بہ سہ علت وی خامخا چہ هغہ عدم محاربہ یعنی جهنگ نہ کول دی مسلمانانوسرہ اس دغہ علت دعدم محربے پہ باقی غیرذمی مشرکانوکی هم دےچی ماشومان یا بوډاګان دی ۔ دی وجہ ددوی دہ خاص کیدو هم احتمال شتہ ددی احتمال دہ وجہ داعام پہ باقی افراد باندی پہ قطعی طریقی سرہ دلالت نہ کویی بلکہ ظنی طریقی سرہ کوی نوپہ دلیل ظنی سرہ ددی تخصیص جایزشوچی خبرواحدیاقیاس دے۔

## فصل فی المطلق والمقید

دی سرہ اقسام ذکرکویی د خاص چہ مطلق اومقیددے مطلق هغہ لفظ چہ د یوځیزپہ ذات باندی دلالت کویی بغیردہ سہ قیداووصف نہ لکہ ایات **فک رقبۃ** دیکی رقبۃ لفظ مطلق دےعام غلام مراددے کی مسلمان وی کہ کافریانارینہ وی کہ زنانہ ۔ اومقیدچہ دلالت کویی پہ ذات دہ یوځیزسرہ دہ قیدیاوصف نہ لکہ دا ایات چہ **فتحریررقبۃ مومنۃ** دلتہ دہ رقبۃ سرہ قید دہ مومنۃ دےنودامقیدشو۔ **ذهب اصحابناالیٰ ان المطلق** دی سرہ اشارہ کویی اختلاف تہ پہ مطلق کی شوافع پہ نزمطلق پشان دہ عام ظنی دےدی وجہ نہ پہ خبرواحد اوقیاس سرہ داپہ یوقیدیاوصف سرہ مقیدکول جایزدی۔احناف وایی چہ مطلق داقسم دےدہ خاص نوځنګہ چہ خاص قطعی الدلالت دےدغسی داهم دےاوځنګہ چہ مطلق دہ یوځیزپہ ذات باندی دلالت قطعی کویی دغسی ددی ذات پہ اطلاق باندی هم دلالت کوی چہ دادہ سہ قیدیاوصف سرہ مقیدنہ دےبلکہ عام دے۔لکہ **فک رقبۃ** کی رقبۃ څنګہ پہ قطعی طورباندی پہ غلام یاوینځہ باندی دلالت کویی دغسی داپہ دی هم دلالت کویی چہ دی غلام یاوینځی سرہ قیدده ایمان یا کفرنشتہ ۔ اس چہ ترسوپوری پہ

مطلق باندی عمل کول ممکن وی ترهغه وخت پوری په دی باندی زیادت په خبرواحدیاقیاس سره نه دےجایزځکه په مطلق باندی زیادت کول اودامقیدکول داددی صفت ده اطلاق منسوخ کول دی ۔ حلانکه مطلق قسم دےدخاص اوداقطعی دےاوخبرواحدظنی دےاوظنی سره نسخ دقطعی نه دےجایزددی ده پاره مثال ذکرکویی چه **فاغسلو وجوهکم** ده احناف په نزپه اودس کی ده اعضاء ثلٰثه مخ ، لاس ، خپو وینځل فرض دی دغسی دسرمسح کول ۔ دی سره قید د ولاء ، ترتیب ، نیت ، تسمیه نشته ۔ امام مالک رحمه الله په اودس کی ولاء شرط وایی دلیل دا چه نبی علیه السلام په دی باندی همیش والےکړےدےولاء په اودس کی اندامونه پرله پسی وینځل ده بل اندام ده اچیدو نه مخکی۔اهل ظواهرپه نزباندی اودس کی تسمیه ویل فرض دی دلیل داحدیث وایی چه **لاوضوء لمن لم یسم** شوافع په نزپه اودس کی ترتیب ، نیت فرض دےدلیل داحدیث دےچه **لایقبل الله صلوٰة امرء حتیٰ یضع الطهورفی مواضعه فیغسل وجہه ثم یدیه** دلته ثم ده ترتیب دپاره دےاونیت فرضیت دپاره داحدیث وایی چه انماالاعمال بالنیات او اودس هم یوعمل دے ۔ ده احناف دلیل دادےچه ایات داودس کی الله دوه حکمونه کړی دی یو **فاغسلوا** غسل داندامونواوبل **فامسحوا** مسح دسراومطلب داچه دلاس ، خپواومخ مطلق وینځل اوده سرمطلق مسح کول فرض دی هغه که ولاء ، ترتیب ، تسمیه سره وی او کنه ۔ اس که داورسره فرض کی نواخباراحادسره به زیادت راشی په کتاب الله باندی اوددی صفت ده اطلاق به منسوخ شی حلانکه خبرواحدسره نه اصل دکتاب الله منسوخ کیدیشی اونه وصف ده کتاب الله ۔ البته په دی احادیثوباندی عمل په داسی طریقه ممکن دےچه کتاب الله دوجه نه مطلق ونځل ده اندامونوفرض شی او احادیث ده وجه نه ولاء ، ترتیب ، نیت ، تسمیه سنت شی ۔ اس نه په حکم ده کتاب الله کی تغیرراغےاونه ددی په وصف کی ۔ **وکذالک قلنافی قوله تعالیٰ الزانیة والزانی** دی سره دویم مثال ذکرکویی ددی چه مطلق دکتاب الله به په خبرواحدسره نه مقیدکیږی بلکه هغه به جاری کیږی په خپل اطلاق باندی ۔ حد ده یوجرم هغه سزاته وایی چه نص سره ثابت وی اومجرم اینده له دغه جرم نه اساتی اوباقی خلقوله عبرت شی ۔ دلته مسله داده چه که غیرشادی شده خځه یا سړے زناکی نودغه ایات سره دده سزاثابت ده ۱۰۰ سل کوړی ۔ اوحدیث کی رازی چه **البکربالبکرجلدماة وتغریب عام** دی حدیث سره ددوی سزا۱۰۰کوړی اویوکال پوری ده وطن نه شړل دی۔دی وجه امام شافعی رحمه الله په نزباندی سل ۱۰۰ کوړۍ اویوکال پوری ده وطن نه شړل پوره سزاده ۔ احناف په نزدغه ایات مطلق دےچه صرف سل ۱۰۰ کوړے پکی ذکردی اس که چرته دی سره یوکال پوری ویستل ده وطن نه ورسره سیوا کوی نوبیاخبرواحدسره مطلق د کتاب الله مقید کیږی اوددی اطلاق منسوخ کیږی۔اوخبرواحدسره تقید ده کتاب الله یانسخ ددی ناجایزدے۔اس به په مطلق د کتاب الله اوخبرواحدباندی په داسی طریقی سره عمل کووچه اطلاق د کتاب الله ختم نشی هغه داسی چه مطلق سل ۱۰۰ کوړۍ چه کتاب الله نه ثابت دی داده زناحدشرعی شو۔اویوکال پوری وطن نه وستل چه حدیث سره ثابت دی دا حواله دےحکم ده حاکم ته که هغه پکی په دغه وخت کی مصلحت اوفایده وینی نویوکال پوری دی جلاوطن کی اوددی دا دلیل هم دےچه حضرت عمررضی الله عنه سزاورکړه امیه ابن خلف له اوبیا یی جلاوطن کونوهغه لاړوهرقل خواته اونصرانی شوعمررضی الله عنه افرمایل چه زه به ددینه رسته څوک نه جلاوطن کوم ۔ دینه معلومه شوه چه جلاوطن کول په حد کی داخل نه دی ورنه حدهیڅ سوک نشی ساقطولے۔ **وکذالک قوله تعالیٰ ولیطوفوبالبیت العتیق** دریم مثال ذکرکویی ددی چه مطلق دکتاب الله په خبرواحدسره نه مقیدکیږی ۔ ایات کی طواف کول مطلق ذکردی قید ده اودس ورسه نشته۔اوحدیث کی رازی چه **الطواف بالبیت صلوٰة** نوځنګه چه مونځ بغیرده اودس نه نه کیږی دغسی طواف هم بغیرداودس

نہ نہ کیړی ددی وجہ امام شافعی رحمہ اللہ پہ نزباندی طواف بغیرداودس نہ نہ کیږی اودس ورلرہ شرط دے۔اس کہ طواف سرہ اودس کول شرط کوی نوبیاتقیدده کتاب اللہ اونسخ ددی رازی پہ خبرواحدباندی اودانہ دی جایز۔ البتہ پہ دی باندی بہ داسی عمل کووچہ مطلق طواف سرہ فرض اداشواودی لپارہ اودس کول واجب دی دہ حدیث د وجہ نہ نوکہ چا بغیر دہ اودس نہ طواف اکونوپہ دہ باندی دم لازم دے۔

**وكذالک قولہ تعالیٰ ورکعوامع الراكعين** داخلورم مثال ذکرکوی ددی چہ مطلق دکتاب اللہ پہ اطلاق باندی عمل کول اوداپہ خبرواحدسرہ نہ مقیدکول.مسلہ دادہ چہ د امام صاحب اوامام محمدرحمہم اللہ پہ نزمطلق رکوع اومطلق سجدہ فرض دہ اوتعدیل الارکان واجب دی ۔ امام ابویوسف اوامام شافعی رحمہم اللہ پہ نزتعدیل الارکان ہم فرض دے ۔ امام صاحب دلیل داوایی چہ ایات کی امر دہ مطلق رکوع دے تعدیل ورسرہ نشتہ نونفس رکوع فرض دہ ۔ امام شافعی دلیل حدیث دہ اعرابی وایی چہ نبی علیہ السلام پہ دہ باندی مونح دبارہ کړے وو ځکہ دیکی تعدیل الارکان نہ وو اوددہ دہ مانځہ نفی یی کړے وہ اونفی دہ مانځہ هلہ کیګی چہ فرض پکی پاتی شی نومعلومہ شوہ چہ تعدیل الارکان فرض دی ۔ امام صاحب جواب داکوی چہ ایات کی ورکعو او وسجدو دا مطلق دے اس کہ حدیث د وجہ نہ تعدیل الارکان فرض وایی نو بیا مطلق مقیدکیګی پہ خبرواحدسرہ او اطلاق یی منسوخ کیګی ۔ البتہ پہ دی باندی عمل پہ داسی طریقہ ممکن دے چہ اطلاق د کتاب اللہ هم ختم نشی اوپہ حدیث هم عمل راشی هغہ داسی چہ مطلق رکوع اوسجدہ فرض شی دہ ایات دہ وجہ نہ او تعدیل الارکان واجب شی دہ حدیث د وجہ نہ ۔

**وعلی هذا قلنا یجوزالتوضیء** دی عبارت سرہ پنځم مثال ذکرکویی ددی خبری چہ مطلق باندی بہ عمل کیګی پہ طوردہ اطلاق سرہ ددہ اطلاق منسوخ کول پہ خبرواحدسرہ ناجایزدی ۔ مسلہ دادہ چہ کلہ دہ پاکو ابو سرہ یوپاک څیز یوزاییی شی اوددی پہ دری صفات کی یو صفت بدل کړی نوپہ دی باندی اودس کیګی او کنہ او ددی پہ موجودوالی کی تیمم جایز دے او کنہ ۔ پہ نز دہ احناف باندی پہ دی باندی اودس جایز دے اوتیمم نہ دے صحیح ۔ امام مالک اوامام شافعی رحمہم اللہ فرمایی چہ پہ دی باندی اودس نہ دے صحیح اوتیمم کول جایزدی ۔ احناف دلیل دا ایات وایی چہ **فان لم تجدوماء** دلتہ ذکر د ماء مطلق دےاودماء مطلق اطلاق پہ هغہ ابوہم کیګی چہ یوپاک څیزورسرہ یوزاے شوے وی اوصرف یوصفت ورلہ بدل کړے وی لکہ ماء الزعفران ۔ شوافع وایی چہ ماءالزعفران دابہ مطلقی نہ دی بلکہ مقید دی پہ قیددہ زعفران سرہ او ایات کی ذکر د ماء مطلق دے مقید نہ دے دی وجہ نہ پہ ماء الزعفران باندی اودس نہ کیګی ۔ مصنف ددی جواب کویی پہ **فان قیدالاضافۃ** سرہ چہ قید د زعفران سرہ ددی نہ صفت دہ ابو نہ لری کیګی بلکہ دیتہ بیاہم ابہ وایی بیا شوافع وایی چہ ماء مطلق دیتہ وایی چہ هغی کی هغہ صفات وی کمہ چہ پہ ابو دہ باران کی وی لکہ رقت او سیلان یعنی داشرط شودپارہ دماء مطلق ۔ ددی جواب دادےچہ ایات کی ذکر دماء مطلق دے پہ دی باندی عمل کول پہ طور د اطلاق سرہ لازم دی ددی مقیدکول پہ یوقیدسرہ یایوشرط سرہ نہ دی جایز ۔ **وخرج عن هذه القضیۃ** دی سرہ جواب ذکرکوی دہ یوسوال چہ ځنګہ ماء الزعفران کی دہ زعفران دہ قید باوجوددغہ ابہ مقید نہ ګرزی دغسی ماءالنجس هم دی ماء مطلق شی او اودس دی پری جایز شی حلانکہ پہ دی اودس نہ دے جایز ۔ جواب دادے چہ ایات کی **ولٰکن یریدلیطهرکم** دادلیل دے پہ دی چہ ابہ سبب دہ طهارت دےاو اودس سرہ هم مقصودطهارت دے اوطهارت رازی پہ پاک څیزباندی پہ نجس څیز سرہ طهارت نہ رازی **۔ وبهذه الاشارۃ** دی سرہ مصنف چہ مقصودپہ اودس کی بی اودسی لری کول دی اوبی اودسی لری کول هلہ ممکن وی چہ کلہ دا

مخکی موجود وی ورنہ تحصیل دہ حاصل بہ رازی ۔ **قال ابوحنیفۃ رحمہ اللہ المظهار** دی عبارت سره شپږم مثال ذکرکویی ددی دپاره چہ مطلق باندی بہ عمل کیگی پہ طورداطلاق خپل اوددی مقیدکول پہ خبرواحدیاقیاس سره ناجایزدی ۔ مسلہ داده چہ یوسړے ده خپلی خزی تشبیہ ده محرمات سره ورکړی ۔ محرمات هغہ زنانہ چہ پہ ده باندی همیشہ لہ حرامی وی ۔ داسی اوایی خپلی خزی تہ چہ تہ پہ مابانڈی پشان د مور زمایی دیتہ ظهاروایی ددی حکم دادے چہ ترسوده کفاره نہ ویی اداکړی نوداخزه پہ ده باندی حرامہ ده ۔ اوکفاره ده ظهارپہ دی ایات کی ذکرده چہ **والذین یظاهرون ۔ الخ** دی ایات کی دری څیزونہ ذکرکړی دی اول غلام ازادول دویم دوه میاشتی پرلہ پسی روژی نیول دریم شپیتہ مسکینانولہ خراک ورکول ۔ دیکی ده اول اودویم سره قید ده **من قبل ان یتماسا** ذکردے اودریم سره داقیدنشتہ بلکہ مطلق ذکردے یعنی کہ جماع نہ رستہ یی غلام ازاد کو یاروژو نیولونہ مخکی یی جماع اکړه یامینځ کی نودغہ کفاره نہ ده شوی ۔ اودریم چہ شپیتہ مسکینانولہ خراک ورکول دی دی سره داقید نشتہ نوکہ دخراک ورکولوپہ مینځ کی یی جماع اکړه نوپہ نیزده احناف باندی دغہ کفاره صحیح شوه ۔ اوپہ نیزده موالک اوشوافع باندی دغہ کفاره نہ ده صحیح بلکہ دباره بہ یی اداکوی ځکہ هغوی خراک ورکول قیاس کوی پہ غلام ازادول او روژی نیولوباندی چہ څنگہ دامقیددی دغسی خراک ورکول مقیدهم مقیددی ۔ احناف جواب ورکوی چہ **فاطعام ستین مسکینا** دامطلق دےقیدورسره نشتہ نوپہ دی بہ عمل کیگی پہ طورده اطلاق باندی ددی مقیدکول پہ قیاس سره ناجایزدی ۔ ځکہ کہ دغہ قید ده **من قبل ان یتماسا** ضروری وےنودی سره بہ یی ذکرکړے وے کنہ ۔ څنگہ چہ مخکی دوو سره یی ذکرکړو۔ اس کہ دغہ قید ده **من قبل ان یتماسا** ده **فاطعام ستین مسکینا** سره ضروری وایی نوبیااطلاق ده کتاب اللہ منسوخ کیگی پہ خبرواحدسره اوداناجایزدی ۔

## فصل

**فی المشترک والمؤل** لفظ پہ اعتباردوضع سره څلورقسمہ ووخاص،عام،مشترک،مؤل دی فصل کی ذکرده مشترک اومؤل کوی ۔ تعریف ده مشترک چہ مشترک هغہ لفظ دےچہ وضع شوے یی ده دوویاده زیاتومعنولپاره چہ دهغی حقیقتونہ جداجداوی پہ دی شرط سره چہ ده هرمعنی لره واضع جدا وی اوکہ واضع یووو نوده دویمی معنی لره وضع کولوپہ وخت کی بہ اولہ معنی هیره کړی وی ۔ مثال لکہ جاریۃ چہ وینځہ او کشتی تہ ویلے کیگی ، مشتری چہ ده بیع عقد قبلونکےاوسیارے تہ وایی ، بائن چہ تفریق او وضاحت تہ وایی یادیرومعنولره وضع شوے وی لکہ لفظ ده عین چہ چینہ ، سره زر، پنډی وغیره تہ وایی ۔

**وحکم المشترک** دی سره حکم ده مشترک ذکرکوی چہ دغہ لفظ نہ پہ یووخت کی دوه یا زیاتی معنی اغستل چہ دیتہ عموم مشترک وایی داجایزدی کنہ دیکی اختلاف دے شوافع وایی چہ عموم مشترک جایز دےبیادغہ لفظ کہ کلام مثبت کی وی اوکہ منفی کی خوپہ دی شرط سره چہ پہ دغہ معنوکی تضادنہ وی اوکہ تضادپکی وونوپہ دلیل سره بہ یوه معنی اغستےکیگی لکہ لفظ ده قروء نہ مرادطهراغستلونہ رستہ ددی نہ حیض نہ شی اغستے۔پہ نزده احناف باندی عموم مشترک ناجایزدےکہ کلام منفی کی وی کہ مثبت کی خوچہ کلہ تری دلیل یاقرینی سره یوه معنی واخلی نوبلہ تری نشی اغستے۔

**وقال محمد رحمہ اللہ** دی سره مثال ذکرکوی ده ددی مسئلی چہ عموم مشترک ناجایزدے۔مسئلہ داده چہ یوسړےمړکیدواووصیت یی اکوچہ زماده مال نہ بہ ده فلانکی قبیلی موالی لہ ورکړی اوددغہ قبیلی موالی اعلیٰ اواسفل دوانړه وو اودغہ سړی ده مولی تعین هم نہ ووکړےچہ کوم مراد دی اعلیٰ کہ اسفل اوس بہ ده موالی نہ مراد کوم وی ۔ ځکہ لفظ ده موالی جمع ده دمولیٰ ده اودالفظ مشترک دےپہ دوو معنوکی اذادونکی دیتہ موالی اعلیٰ هم وایی اوازادکړےشوی دیتہ موالی اسفل هم وایی ددی سړی داوصیت باطل دےځکہ موصیٰ لہ مجهول دےاودوانړه قسمونہ ده لفظ موالی نہ هم نشی مرادکیدےځکہ عموم ده مشترک رازی اودناجایزدی۔

**وقال ابوحنیفۃ رحمہ اللہ اذاقال لزوجتہ** دی سره دویم مثال ذکرکوی دغہ مسئلی دپاره چہ عموم پہ مشترک کی ناجایزدےیوسړےخپلی ښځی تہ اوایی چہ **انت علی مثل امی** مورقابل احترام هم ده اونکاح ورسره هم حرامہ ده دی وجہ نہ ددی قول یوه معنہ داهم کیدیشی چہ تہ پہ مباندی پشان ده مورقابل ده احترام یی اوداهم کیدیشی چہ تہ پہ مباندی پشان ده مورحرامہ یی نومثل امی لفظ مشترک دےپہ حرمت اوکرامت کی اوس کہ دی قایل نیت ده حرمت کړے وونوداظهاردےاوکہ هیڅ نیت یی نہ ووکړےنوبیاظهارنہ دے ځکہ عموم مشترک ناجایزدےچہ دوانړه معنی تری واخلی ۔

**وعلیٰ هذاقلنالایجب النظیر** دادریم مثال دے ددی مسئلی دپاره چہ عموم مشترک ناجایزدے مسئلہ داده چہ پہ حالت احرام کی خکارکول ناجایزدی کہ چاخکاراکونوددی پہ بدلہ کی مثل معنوی ورکول لازم دی مثل صوری نشتہ ۔ مثل صوری تہ نظیرهم وایی چہ ددغہ قتل شوی خکارمشابہ خلقتا وی لکہ ده هوسی (هرن)مثل صوری بزه (بکری)ده اومثل معنوی چہ ددغہ خکارقیمت ورکړی نواحناف پہ نزمثل معنوی مراددے پہ **مثل ماقتل من النعم** کی اوامام مالک،ابویوسف،شافعی رحمہم اللہ فرمایی چہ کہ داسی خکاریی قتل کړےوی چہ ده هغی مثل صوری موجودوونومثل صوری لازم دےاوکہ نہ ووموجودنوبیامثل معنوی لازم دے۔اوامام ابوحنیفہ،اوامام ابویوسف رحمهم اللہ پہ نزهرحالت کی مثل معنوی لازم دےاودوانړه تری نشی اغستےځکہ عموم مشترک ناجایزدے ۔

**ثم اذاترجح** دی سره تعریف اوحکم ذکرکوی ده موؤل چہ هرکلہ ده مشترک پہ ډیرومعنوکی یوی معنی لہ ترجیح ورکړی پہ غالب ګمان سره نودیتہ تاویل وایی پیاداغالب ګمان بہ یاحاصل شوے وی ده قیاس نہ یا ده عرف اورواج نہ یاخبرواحد نہ ۔ نومشترک بہ ترهغہ وخت پوری مشترک وی چہ ترڅوددی یوی معنی لہ ترجیح نوی ورکړے شوی ده یودلیل یادیوی قرینی ده وجہ نہ بیاکلہ چہ یوی معنی لہ پکی ترجیح ورکړے شی نوبیادغہ مشترک موؤل شو۔

**حکم دمووول** چہ پہ دی باندی عمل کول واجب دی سره ده احتمال دغلطی نہ ۔

**مثالہ فی الحکمیات** دی سره مثالونہ ذکرکوی چہ موؤل باندی ده عمل کولومثال دادے چہ یوځاے کی مختلف کرنسی چلیګی خودیکی یوقسم کرنسی ریواج زیات وی اس عقد ده بیع کی ثمن مطلق ذکرشی نومراد بہ دغہ غالبہ کرنسی وی ۔ نودلتہ غالب ګمان سره دغہ غالبی کرنسی لہ ترجیح ورکړه دیتہ مؤول وایی ۔ اس کچرتہ رواج ده مختلف کرنسی یوشان وونوبیادغہ بیع فاسده ده ځکہ ثمن مجهول دی چہ کمہ مراد دی اونہ ټول مرادکیدیشی ځکہ عموم ده مشترک ناجایزدے۔

**<u>وحمل الاقراء علی الحیض</u>** دی کی لفظ ده قروء نه حیض اغستل په طریقی ده تاویل سره دی ځکه چه دالفظ مشترک دےپه مینځ ده حیض اوطهربیادلایل ظنیه سره حیض له ترجیح ورکړے شوه اودلیل ظنی سره یوځیزله ترجیح ورکول داتاویل دے۔

**<u>وحمل النکاح فی الایة علی الوطی</u>** دابل مثال دےنکاح نه وطی اغستل هم په طورده تاویل سره دی ځکه چه لفظ ده نکاح مشترک دےپه مینځ ده وطی اوعقدده نکاح کی نودلیل ظنی سره وطی له ترجیح ورکول داتاویل دے۔

**<u>وحمل الکنایات حال مذاکرة الطلاق</u>** دابل مثال دےچه په حالت ده مذاکرےده طلاق کی الفاظ کنایه ویلونه طلاق اغستل داهم په طورده تاویل سره دی لکه یوسړےخپلی ښځی ته اوای چه <u>انت بائن</u> نوبائن لفظ مشترک دےپه مینځ ده طلاق اودی معنی کی چه ته په حسن اوجمال کی ده نورونه جدایی اس دالفظ ده بائن په حالت ده مذاکرےده طلاق کی ویلےشوےدےدی وجه نه ددی نه په غالب ګمان سره مراد طلاق دے۔

**<u>وعلیٰ هذاقلناالدین المانع</u>** دی سره مثال ذکرکویی ددی چه غلبی ده ظن سره یوی معنی له ترجیح ورکړی مثلایوسړی سره په قدرده نصاب مال دےاوپه ده باندی دومره قرضه هم ده نوددی قرضی ده وجه دده نه زکوٰة ساقط دےاس که چرته داسړے ده یونصاب نه سیوانصابونومالک وی مثلاده سره بقدرده نصاب دراهم هم شته اوبقدرده نصاب سامان تجارت هم شته اوپه ده باندی ده یونصاب په مقدارقرضه هم ده ۔ نوقرضه دوانړونصابونوسره ده تعلق احتمال لری ۔ البته دابه دهغه نصاب سره متعلق کیګی چه هغی نه قرضه پوره کول اسان وی اوهغه دراهم دی ۔ دی وجه په غلبه ظن سره نصاب ده دراهم له ترجیح ورکړے شوه ده پاره دپوره کولوده قرضے۔**<u>وفرع محمدعلیٰ هذا</u>** په دغه مذکوره مسئله باندی امام محمدرحمه الله دامسئله تفریع کړی ده چه یوسړے مطلق نصاب مهرمقررکړی اوودده سره یونصاب ده دراهم اوبل ده ګډوبزو دےیعنی دوانړه نصابونه دی ورسره نومهربه ده دراهم نه اداکیدیشی ځکه دا اسان دی اوکه کال تیرشونوزکوة به په ګډوبزوکی یی دراهم کی نشته ځکه هغه ده په مهرکی ورکړی دی ۔**<u>ولوترجح بعض وجوه المشترک</u>** دی سره غرض ده مصنف رحمه الله **تعریف ده مفسراوددی حکم** ذکرکوی چه ده مشترک په ډیرومعنو کی یوی معنی له متکلم پخپله ترجیح ورکړی نوداپه منزله ده دلیل قطعی شواودغه مشترک اس مفسرشوپه دی تعریف سره ده مفسراومؤول په مینځ کی فرق هم واضحه شوچه مؤول کی ترجیح یوی معنی له په غلبه ظن سره وی اواحتمال ده غلطی پکی وی اومفسرکی ترجیح یوی معنی له په دلیل قطعی سره وی اواحتمال ده غلطی پکی نه وی ددی مثال لکه یوسړے اوایی چه **<u>لفلان علی عشرة دراهم من نقدبخارا</u>** دلته لفظ ده دراهم مشترک دے چه ده کمی علاقی دراهم به مراد وی نومتکلم پخپله ددی بیان اکوچه دراهم ده بخارامراد دی اس که دی متکلم داتعین نه وےکړےنوبیابه په غالب ګمان سره مرادهغه دراهم ووچه کمه زیات رایج ووډغلته اودابه بیا مفسرنه ووبلکه مؤول به ووځکه یوی معنی له ترجیح په غالب ګمان سره ورکړے شوه ۔

**<u>فصل فی الحقیقة والمجاز</u>**

دی ځای نہ مصنف دہ لفظ دویم تقسیم کوی څلوراقسام تہ حقیقت ، مجاز ، صریح ، کنایہ وجہ دہ حصر پکی دادہ چہ لفظ بہ یا پہ خپل معنی موضوع لہ کی استعمال شوےیی یاغیرمعنی موضوع لہ کی اول تہ حقیقت اودویم تہ مجازوای بیابہ یاددغی لفظ معنی واضحہ وی یاغیرواضحہ اول صریح اودویم کنایہ ۔
بیامصنف دہ حقیقت اومجازتعریف کوی چہ حقیقت دیتہ وای چہ کلہ یولفظ واضع دہ یومعین څیزدپارہ وضع کړے وی چہ کلہ هم دالفظ ذکرشی نوبغیردہ سہ قرینی نہ دغہ معین څیز مراد کیګی دہ کم څیزدپارہ چہ دغہ لفظ وضع شوےوی هغی تہ معنی موضوع لہ اومعنی حقیقی وایی اوکہ چرتہ یولفظ دہ معنی موضوع لہ پہ ځای باندی پہ غیرمعنی موضوع لہ کی استعمال شی دہ څہ قرینی دہ وجہ نہ دیتہ مجاز وای لکہ لفظ دہ اسدچہ دیومعین ځناوردہ پارہ وضع شوے دےاس دہ شجاعت دہ قرینی دہ وجہ نہ دایوانسان تہ اویلےشی دیتہ مجازوای ۔

بیاپہ اعتباردہ واضع سرہ ددی څلوراقسام دی ۱ وضع لغوی چہ اهل لغت یولفظ وضع کړے وی دہ یومعنی لرہ لکہ لفظ دصلوۃ اهل لغت وضع کړے دعالرہ نولفظ دہ صلوۃ دعالرہ حقیقت لغوی دے۲دےوضع شرعی چہ شارع یولفظ وضع کړے وی یومعنی لرہ لکہ لفظ دہ صلوۃ وضع دے ادادہ ارکان مخصوصہ ۳وضع عرف خاص چہ یوخاص ډلی یولفظ وضع کړےوی یومعنی لرہ لکہ نحویانواسم وضع کړے دےدی لرہ چہ دلالت کوی پہ مستقلہ معنی چہ دہ دری زمانونہ پکی یوہ زمانہ هم نہ وی ۴ وضع عرف عام چہ عام خلقویولفظ وضع کړے وی دہ یومعنی لرہ لکہ لفظ دہ دآبہ وضع دےچارپایہ لرہ ۔

## <u>ثم الحقیقۃ مع المجازلایجتمعان</u>

دلتہ دامسئلہ ذکرکوی چہ یولفظ نہ پہ یووخت کی ددغہ لفظ حقیقی اومجازی معنی دوانړہ اغستےشی کنہ ۔ دی کی اختلاف دےدہ احناف اوشوافع احناف وایی چہ نشی اغستےدلیل یوداوای چہ مثلایوہ کپړہ دہ دا بہ یوسړے پہ یوحالت کی یاپہ طوردہ ملک سرہ استعمالوی یاپہ طوردہ عاریت سرہ دوانړوسرہ پہ یووخت کی نشی استعمالولےدغسی یولفظ نہ پہ یووخت کی دوانړہ معنی نشی اغسےدویم دلیل داوایی چہ حقیقت دیتہ وایی چہ لفظ پہ خپلہ معنیٰ موضوع لہ کی پاتی شی اواستعمال شی اومجازچہ دغہ معنیٰ موضوع لہ نہ اځی اوپہ بل سہ کی استعمال شی نوکہ دوانړہ معنی اغستےشوےنوبیاخوداسی بہ وہ چہ دالفظ هم دی معنیٰ موضوع لہ کی پاتی شوےاوهم تری وتلے دےداخواجتماع دہ ضدین دہ ۔

دارنګی حدیث دےچہ <u>ولاالصاع باالصاعین</u> دلتہ دہ صاع حقیقی معنیٰ عین دغہ لوخےدےدہ غلی دہ ناپ اومجازادغہ غلی تہ هم وایی چہ کمہ پہ دی صاع کی رازی نوکلہ چہ دلتہ ددی صاع نہ مرادغلہ واخلی نوبیاتری حقیقی معنی چہ عین دغہ لوخےدےداتری نشی اغستےحکہ بیااجتماع دہ حقیقی اومجازی معنی رازیدی وجہ نہ یولوخےپہ دووخرخولےشیدغسی دویم مثال ایات دہ ملامسۃ چہ <u>اولامستم النساء</u> دلتہ لفظ دہ مس مشترک دےپہ مینځ دہ حقیقی معنی چہ لاس لګول دی پہ زنانہ باندی اومجازی معنی چہ جماع کول دیخودلتہ دی ایات کی پہ اتفاق سرہ جماع مراددہ نوبیاتری حقیقی معنی چہ لاس لګول دی نشی اغسےدی وجہ دہ احناف پہ نزپہ لاس لګولوسرہ اودس نہ ماتیګی ۔ پہ نزدہ شوافع باندی کہ حقیقی اومجازی معنی اجتماع محال نہ وی نواغستےشی دی وجہ دہ هغوی پہ نزباندی پہ لاس پہ شهوت سرہ

لګول ناقض ده اودس دی نودوانړه معنی دلته اغستل صحیح دی ده شوافع په نز-**قال محمداذااوصیٰ** دی سره مسئلی تفریع کوی په دی اصل باندی چه اجتماع ده حقیقت اومجازمحال ده ۔ **١** چه یوسړی وصیت اکوچه زماده مال نه به زماموالی له مال ورکړی اس موالی جمع ده موالیٰ ده اومولیٰ هغه چاته هم وایی چه دی سړی ازادکړی یی اوهغه چاته هم وایی چه څوک دی ازادکړےشووازادکړی وی مثلاخالدوصیت اکوبیادی خالد زید لره ازادکړےدےاوزیدبیاراشدلره ازادکړےدےنودلته دازیدده خالدمولیٰ دےحقیقی اوداراشدیی هم مولیٰ دے مجازی نودی وصیت کی به صرف زیدداخل وی راشد نه دے داخل ځکه که داپکی هم داخل کی نوبیااجتماع ده حقیقت اومجازرازی اوداناجایزده **٢** چه حربیانوامن اغختوده مسلمانانونه ده پاره ده پلارانوخپلواس لفظ ده اب حقیقتاخپل پلارته وایی اومجازا نیکه ته هم وایی نودی امن کی صرف خپل پلاران داخل دی نیکونه نه دی داخل ځکه اجتماع رازی بیا ده حقیقت اومجاز **٣** چه حربیانوامن اغختوده پاره ده موریانو خپلو نولفظ ده **ام** حقیقتا خپلی مور ته وای اومجازا نیا ته هم وایی نودی امن کی صرف ددوی خپلی موریانی داخل دی نیا پکی نه ده داخل ۔ **٤** یوسړی وصیت اکو چه زماده مال نه به ده فلانکی قبیلی باکرو جینکو له دومره مال ورکړی نو دی وصیت کی هغه جینکی نه دی داخل چه بکارت یی په زنا سره زایله شوےدے **٥** که چاده یوسړی ده ځامنوده پاره وصیت اکواودده خپل ځامن هم وواونوسی یی هم وونودیکی به مرادصرف خپل ځامن یی نوسی پکی نه دی داخل ځکه لفظ ده ابن حقیقت دےپه خپل ځوے کی اومجازدےپه نوسی کی **٦** چه یوسړی ده پردی ښځی نوم واغستوچه دی سره به زه نکاح نه کوم دلته مرادده نکاح نه عقدده نکاح دےاس که چرته ده زنا اکړه ددغه ښځی سره نودےحانث نه دےځکه نکاح حقیقت دےپه عقدده نکاح کی اومجازدےپه وطی کی۔

**ولئن قال اذاحلف** دی سره مصنف سوالونه ذکرکوی ده طرفه ده شوافع نه ده احناف په مذکوره قاعده باندی چه اجتماع ده حقیقت اومجازناجایزده په نزده احناف باندی حلانکه احناف پخپله اجتماع ده حقیقت اومجازراوستی ده ددی اول مثال دادےچه یوسړے قسم اکی چه **لایضع قدمه فی دارفلان** نودلته قدم حقیقتا بغیرده پیزارنه کورته داخلیدلو ته وایی اومجازاده پیزارسره یاپه سورلےباندےداخلیدل وس که دغه سړے دی حالات نه هرحالت کی داخل شونودےپه نزده احناف باندی حانث دےحلانکه داخواجتماع راغله ده حقیقت اومجاز۔ دویم مثال چه یوسړےقسم اکی چه زه به ده فلانکی په کور کی نه اسیګم دلته حقیقتاددغه سړی خپل کورمراددےاومجازاده کرایےیاعاریۃ کورمراددےوس که داسړے ددغه بل سړی په هرقسم کورکی اسیدونودےحانث دے په نزده احناف اودلته هم اجتماع راغله ۔ دریم سوال چه اویی چه **عبدی حریوم یقدم فلان** دلته یوم حقیقتا ورځ ته اومجازاشپی ته هم وایی وس که داسړےده ورځی راغےاوکه ده شپی هرحالت کی دغه غلام ازاددےنوداهم اجتماع شوه ده حقیقت اومجاز۔

**قلناوضع القدم** دی عبارت سره مصنف جواب ذکرکوی ده سوالونو ده شوافع چه ټولومسئلوکی چه داسړےحانث دےنوداپه طورده اجتماع ده حقیقت اومجازنه دے بلکه په طورده عموم مجازسره دےعموم مجازمطلب داچه یولفظ په عرف کی داسی عام شی چه حقیقی اومجازی دوانړه معنی رائج وی اواغستےشی تری نواوله مسئله کی ده وضع القدم نه مرادمطلق دخول دےاودخول چه څنګه بغیرده پیزارنه رایج دے دغسی دینه بغیرهم دےدویمه مسئله کی دارفلان نه مرادملکی،عاریۃ،اوده کرایی ټول داخل دی دریمه مسئلی کی یوم نه مرادمطلق وقت دےکه ورځ وی اوکه شپه دیته عموم مجازوایی ۔

**ثم الحقیقۃ انواع ثلٰثۃ** دی سره تقسیم کوی ده حقیقت په اعتبارده معنیٰ حقیقی اومجازی سره دادره قسمه دی اول حقیقت متعذره دویمه حقیقت مهجوره دریم حقیقت مستعمله ۔ حقیقت متعذره دیته وایی چه ده لفظ هغه معنیٰ حقیقی چه په هغی باندی عمل بغیرده تکلیف اومشقت نه ممکن نه وی لکه اکل نخلۃ حقیقت کی عین دغه ونه خوړل دی اومجازا ددغه ونی میوی خوړل دی دلته معنی حقیقی متعذره دهدویم حقیقت مهجوره یعنی ده لفظ هغه معنیٰ حقیقی چه ده هغی پیژندل اوعمل پری کول ممکن وی خوعرف اوعادت کی هغه متروک وی څوک پری عمل نه کوی لکه لایضع قدمه فی دارفلان کی بغیر ده پیزارنه داخلیدل دریم حقیقت مستعمله ده لفظ هغه معنیٰ حقیقی چه په هغی باندی عمل کول ممکن وی بغیرده مشقت اوتکلیف نه اوعرف کی هم مراد وی لکه څوک وایی رایت اسدا نوده زمری لیدل ممکن دی ۔

فرق په مینځ ده حقیقت متعذره اومهجوره کی یوخوده تعریف نه معلوم شوچه متعذره کی په حقیقی معنی باندی عمل ممکن وی خوسره ده تکلیف اومشقت نه اوپه مهجوره کی عمل ممکن وی بغیرده تکلیف نه خوعرف کی رایج نه وی دویم فرق دادے چه که حقیقت متعذره کی په حقیقی معنی باندی عمل هم اوکړے شی نوبیا هم ورسره حکم شری نه شی متعلق کیدےلکه یوسړےعین دغه ونه اخری نودے نه دے حانث اوحقیقت مهجوره کی که په حقیقی معنی باندی عمل اشی نوحکم شرعی ورسه متعلق کیګی لکه سړے کورته بغیرده پیزارنه یاپیزارسره داخل شودےحانث دے په هرصورۃ کی ۔

حکم ده حقیقت متعذره اومهجوره دادےچه که دیکی متکلم ده حقیقی معنی نیت کړے وونودابه مراد وی اوکه نیت یی نه ووکړے نوبیابالاتفاق مجازی معنی مرادده ۔

**ونظیرالمتعذرۃ** دی سره مصنف رحمه الله مثال ذکرکوی ده حقیقت متعذره چه چاقسم اوکچه زه به ددی ونی یاددی کټوی نه خراک نه کوم نوسلته ددی حقیقی معنی متعذره ده چه عین دغه ونه یادغه کټوی خوړل دی دی وجه نه که داسی یی اوکړه نودے نه دے حانث نومرادبه دلته مجازی معنی وی چه میوی اوکم خراک چه دغه کټوی کی وی دامراد دےوس په دی قاعده باندی چه حقیقت متعذره به پریخودےکیګی اومجازبه اغستے کیګی احناف وایی چه که یوسړی قسم اوکچه لااشرب من هذه البیر دلته حقیقی معنی چه په دغه اوبو باندی خوله ایخودل او سکل دی دامتعذر دی دی وجه نه مجازی معنی به اغستےکیګی چه په لاس یاپه سه لوخی کی اوبه راغستل اوسکل دی اوکه په دغه حقیقی معنی یی عمل اکونودےنه دےحانث ۔

**ونظیرالمهجورۃ** مثال ده حقیقت مهجورۃ چه یوسړےقسم اکی چه لایضع قدمه فی دارفلان دلته حقیقی معنی بغیرده پیزارنه داخلیدل دی دامکن دی خوعرف اوعادت کی دامهجوردی دی وجه نه دلته مجازی معنی مراد ده چه هغه مطلق دخول دے وس که داسړے په هرحالت کی داخل شوپیزارسره وی که بغیرده پیزار نه دےحانث دےدی وجه احناف وایی چه یومدعیٰ علیه بل چالره وکیل بالخصومت کړی نوددی وکیل وس حقیقی کار دادےچه دےبه ده مدعی هره خبره نفی کوی اوانکاربه تری کوی اومجازی داکه چرته دی مدعی شرعی ګواهان پیش کړه نوشرعا،عادتا،اوعرفاپه ده باندی منل لازم دی ځکه داوکیل ده انکاراواقراردوانړواختیارمنددےنودلته هم بیامجازی معنیٰ اخلی ۔

**ولوکانت الحقيقة مستعملة** دلته مسئله ذکرکوی چه کله ده یولفظ حقیقی معنیٰ هم وی نوددی به یامجازمتعارف هم وی یعنی داسی معنیٰ چه هغه ده حقیقی معنی نه زیاته مشهوره وی یابه نه وی که نه وه نوبیابالاتفاق به حقیقی معنی اخلی اوکه مجازمتعارف وونوبیاهم په نزده امام ابوحنیفه رحمه الله به حقیقی معنیٰ اخلی اوصاحبین په نزبه عموم مجاز اخلی یعنی داسی معنی چه حقیقی اومجازی دوانړه معنی پکی راشی لکه یوسړے قسم اکی چه زه به ددی غنمونه خراک نه کوم نوددی حقیقی معنیٰ داچه عین دغه غنمودانی اخری اومجازی چه غنمونه کومه خراک تیارشوے وی هغه اخری امام صاحب په نزحقیقی معنی به اخلی اوصاحبین په نزعموم مجازیعنی داعام دےکه ده غنمودانی اخری اوکه دغه خراک دارنګی یوسړےقسم اکی چه زه به ددی نهرنه اوبه نه څکم نوده امام صیب په نزحقیقی معنی مرادده یعنی خوله په ابوایخودل اوڅکل اوصاحبین په نزعموم مجازیعنی مطلق څکل که په هره طریقه وی ۔

**ثم المجازعندابی حنیفة رحمه الله** دی عبارت سره مسئله ذکرکوی چه مجازخلیفه دےده حقیقت نه خوپه کوم اعتبارسره په دی خواتفاق دےچه حقیقت اصل دےاومجازخلیفه خوپه اعتبارکی اختلاف دےپه نزده صاحبین باندی مجازخلیفه دےده حقیقت نه په اعتبارده حکم سره یعنی کله چه په حقیقی معنیٰ باندی حکم لګول ممکن وی خوده یوعارض یاقرینی ده وجه نه په دی باندی عمل کول ناممکن وی نوبیابه رجوع کیګی مجازته اوپه نزده امام صیب باندی مجازخلیفه دےده حقیقت نه په اعتبارده تکلم اوتلفظ سره یعنی ده کلام تکلم په منیٰ موضوع له کی اصل دےاوپه معنیٰ غیرموضوع له کی خلف دےنوڅنګه چه ده کلام په اعتبارده نحوی ترکیب سره په حقیقی معنیٰ کی تکلم اوتلفظ صحیح وی نوپه مجازی معنیٰ کی به هم صحیح وی ده صاحبین په نزکه حقیقی معنیٰ باندی عمل ممکن ووخوده حه عارض یاقرینی ده وجه نه پری عمل نشوکیدےنو هله به مجازی معنیٰ اغستے شی اوکه حقیقی معنیٰ ده سره ممکن نه وه نوکلام به لغو یی مجازی معنیٰ به هم نه اخلی امام صاحب په نزاګرکه حقیقی معنه ممکن نه وی مجازی به اغسےشی ۔ **مثاله اذاقال لعبده** دی سره مثال ذکرکوی چه یوسړے خپل غلام ته اوایی چه هٰذا ابنی حلانکه دغه غلام دده نه په عمر کی لویی وی نودغه غلام په نز ده صاحبین نه دے ازاد اودغه کلام لغودے ځکه دلته حقیقی معنیٰ ممکن نه ده چه ځوےدی ده پلارنه لویی وی اوپه نزده امام صاحب باندی دغه غلام ازاد دے ځکه داکلام په اعتبارده نحوی ترکیب سره صحیح دےچه هٰذا مبتدا اوعلی اوابنی خبردے ۔ **وعلٰی هٰذا** دی عبارت سره ثمره ذکرکوی ددغه اختلاف چه یوسړےاوایی **له علی الف اوعلٰی هٰذاالجدار** ددی حقیقی معنیٰ داده چه ددی سړی په مابانذی اوپه دی دیوال باندی لاعلی التعین زر روپی دی دارنګی داقول چه **عبدی اوحماری حر** ددی حقیقی معنیٰ داچه زما غلام اوخردی دوانړوکی یوازاد دے لاعلیٰ التعین نودادوانړه کلامونه په نزده صاحبینولغودی ځکه دیکی حقیقی معنیٰ نه ده ممکن ځکه دیوال محل ده زر روپو لازم کیدواوخر محل ده ازادیدو نه دے امام صاحب په نز دی دوانړو کلامونو کی مجازی معنی په اغستےشی اودی عبارتونو کی **او** په معنیٰ ده واو سره دے مجازا نواول قول کی صرف په دی سړی باندی زر روپی لازم دی او دویم قول کی صرف غلام ازاد دے ۔ **ولایلزم علیٰ هذا** دی سره جواب ذکرکوی دی یوسوال چه رازی په قاعده ده امام صیب چه مثلا یوسړےخپلی ښځی ته اوایی چه **هٰذه بنتی** حلانکه دغه ښځه ده بل چالور وی نودلته هرکله چه حقیقی معنیٰ متعذر ده ځکه هغه ده بل چالور ده نومجازی دی مراد شه کنه چه هغه طلاق واقع کیدل دی ځکه داکلام په اعتبارده نحوی

ترکیب سره هم صحیح دےچہ هٰذه مبتداء او بنتی ورلہ خبر دےحلانکہ دی کلام تہ امام صیب لغو وایی
ددی جواب داذکرکوی چہ دااعتراض ده امام صیب پہ قاعده باندی نہ واردیگی ځکہ دلتہ دا لور والے
منافی دے ده نکاح سره ځکہ ده خپلی لور سره پہ هیڅ حالت کی نکاح نہ کیگی نو چہ نکاح نہ دے
شوے نوطلاق هم نہ دے واقع شوےنوځنګہ چہ لور کیدل منافات ده نکاح سره لری دغسی ده طلاق سره
هم لری نومنافات راغلل پہ مینځ ده حقیقی اومجازی معنیٰ کی دی وجہ نہ دلتہ مجازی معنیٰ نہ ده
صحیح نوهرکلہ چہ حقیقی اومجازی دوانړه معنی نشی اغستےنوځکہ کلام لغودےپہ خلاف ددی قول ده
سړی نہ چہ خپل یوغلام تہ اوایی چہ هذا ابنی حلانکہ دغہ غلام دده نہ مشر وی دلتہ حقیقی معنی متعذر
ده ځکہ دغہ غلام دده نہ مشردےدی وجہ نہ دلتہ مجازی معنیٰ مراد ده چہ هغہ حریت دےځکہ دلتہ پہ
مینځ ده حقیقی اومجازی معنیٰ کی منافات نشتہ هغہ داسی چہ ده ابن حقیقی معنیٰ ځوے
دےاوبیاداځوےده پلارپہ ملکیت کی راتلل دیکی منافات نشتہ چہ مثلا دغہ ځوےدده ده بل چاغلام وی
اوبیایی دے واخلی نوداپلار یی مالک شوبیا ددی حدیث ده وجہ نہ چہ **<u>من ملک ذارحم محرم عتق علیہ</u>**
دغہ ځوے یی ازاد شو۔

## <u>فصل فی تعریف طریق الاستعارة</u>

مخکی دحقیقت اومجاز تعریف،اقسام،اوتفریعات ذکرشواس علاقی ده مجازذکرکوی لفظ چہ کمہ معنیٰ
لره وضع شوے وی هغی تہ معنیٰ وضعی،معنیٰ حقیقی،معنیٰ موضوع لہ وایی اودغہ معنیٰ لره چہ کمہ
لفظ استعمالیگی هغی تہ حقیقت وایی اوکلہ چہ لفظ پہ بلہ معنیٰ کی استعمال شی چہ دالفظ دغہ معنٰی لره
نہ وی وضع شوے نودغہ معنیٰ تہ معنیٰ مجازی،اومعنیٰ غیرموضوع لہ وایی اودی لره چہ کم لفظ
استعمالیگی هغی تہ مجاز وایی پہ معنیٰ مجازی اوحقیقی کی بہ څہ مناسبت اوعلاقہ خامخا وی اوددی
مناسبت اوعلاقی پہ اعتبارسره پہ علم البیان کی ده مجازدوه قسمونہ ذکرکیگی (۱)داچہ کلہ پہ مینځ ده
حقیقی اومجازی معنیٰ کی تعلق ده تشبیہ وی یعنی یوبل سره مشابهت اویوشان والے پکی وی نولفظ پہ
معنٰی مجازی کی استعمالولوتہ استعاره وایی لکہ لفظ ده شیرچہ یوبهادرسړی تہ اوایی دا استعاره ده ځکہ
چہ بهادر سړے مجازی معنیٰ ده د شیر او دامشابہ دے ده هغہ معین ځناور چہ حقیقی معنیٰ ده د
شیر(۲)داچہ کہ معنیٰ حقیقی اومجازی کی تعلق اونسبت ده تشبیہ نہ علاوه بل حہ علاقہ اونسبت وی لکہ
معنیٰ مجازی ده معنیٰ حقیقی جزیاکل یاظرف یامظروف وی نودی تہ لوصورتونوکی لفظ ده معنیٰ
مجازی لره استعمالول مجازمرسل دےالبتہ اصولیین پہ نز مجازاواستعاره یودی یعنی چہ لفظ پہ معنیٰ
غیرموضوع لہ کی استعمال شی دیتہ مجازهم وایی اواستعاره ورتہ هم وایی بیااحکام ده شریعت کی
استعاره عموما پہ دوو طریقو سره رازی (۱)چہ معنیٰ مجازی اوحقیقی کی نسبت اوتعلق ده علت
اومعلول وی (۲)چہ معنیٰ مجازی اوحقیقی کی نسبت اوتعلق ده سبب اومسبب وی اول صورة کی ده
دوانړوطرفونونہ استعاره صحیح کیگی یعنی ذکرده علت اومراد تری نہ معلول یاذکرده معلول
اومرادتری نہ علت دوانړه صحیح دی البتہ دویم صورة کی استعاره صرف ده یوطرف نہ صحیح کیگی
چہ ذکرده سبب چہ اصل دےاومرادمسبب چہ فرع ده داصحیح ده او ذکرده مسبب اومراد سبب دانہ ده
صحیح ۔

**فرق په مینځ ده علت اوسبب کی** علت هغی ته وایی چه مستلزم وی حکم له بغیرده واسطی نه اوسبب هغی ته وایی چه مستلزم وی حکم ته په واسطی ده علت سره لکه اغستل ده وینځی دامستلزم دی ملک رقبی له اوملک رقبی مستلزم دےملک متعی له نوملک رقبی علت شودپاره ده ملک متعی ځکه داملک رقبی مستلزم دےملک متعی له بلاواسطه اواغستل ده وینځی سبب دےده پاره ده ملک متعی ځکه اغستل مستلزم دی ملک متعی له په واسطی ده ملک رقبی .

**مثال الاول فیمااذاقال** دی سره مصنف مثال ذکرکوی ده ده علة اومعلول ده مثال نه مخکی په طورده تمهیدسره دامسله ذکرکوی چه یوسړے اوایی **ان ملکت عبدافهوحر** که زه ده غلام مالک شوم نودےبه ازادوی اوبیاده نیم غلام واغستواوخرس یی کواوبیایی نیم واغستونودغه نیم غلام به ازاد نه وی اوکه چرته داسی اوایی چه **ان اشتریت عبدافهوحر** که ماغلام واغستونودابه ازادوی اوبیاده د غلام نیمه حصه واغسته اوبیایی خرسه کړه اوبیایی نیمه واغسته نودغه نیمه حصه ازاده ده وجه داده چه ملک اوشراء کی فرق دےچه کله لفظ ده ملک مطلق ذکرشی نومراد به ملک کامل وی اویوځیزباندی ملک کامل هله رازی چه دغه ځیزټول اجزاء په یووخت کی دده په ملک کی موجودوی اوشراء ده موجودیدوده پاره ده مشتری په ملک ددغه ځیزټول اجزاپه ملک کی راتلل شرط نه دےدی وجه نه که یوسړی یوځیزلګ لګ جداجداواغستونودے ددغه ځیزمشتری ګڼړلے کیګی .

**ولوعنیٰ بالملک الشراء** دی سره دامسئله ذکرکوی که یوسړی ده ملک نه شراء واغسته نوداصحیح ده اوده غلام نصف ثانی به ازاد وی لکه مخکی ذکرشواوکه ده شراء نه ملک اخلی نوهم صحیح ده دیکی هم ده غلام نصف ثانی اذادیګی لکه مخکی ذکرشوده ملک نه شراء اوده شراء نه ملک اغستل حکه صحیح دی چه شراء علت دے ده پاره ده ملک اوملک ددی معلول دےاوعلت معلول کی استعاره ده جانبین نه صحیح ده چه ذکرده یومرادتری بل واخلی **الاانه فیمایکون تخفیفا** دی سره جواب ذکر کوی ده یوسوال چه څنګه ان ملکت عبدافهوحرپه صورت کی که قایل اوایی چه دلته دشراء نه ځمامراد ملک وو نوهم دی نصف ثانی ازاد نشی کنه حلانکه قاضی به دده دادلیل نه منی وس ددی نه منلووجه دانه ده چه ذکرده علت اومرادمعلول صحیح نه دےبلکه وجه داده چه دلته داقایل حان ده نقصان نه بچ کویی اوخپله فایده ګوری چه داغلام دی ازاد نشی **ومثال الثانی اذاقال** دویم صاورت ده استعارے داووچه ذکرده سبب اومراد تری مسبب وی ددی مثال ذکرکویی دلته مثال یوسړے خپلی خپلی ځځی ته اوایی چه **حررتک** ماته ازاده کړی یی اودی لفظ سره نیت ده طلاق اکی نودانیت دده صحیح دے اوځځه دده طلاقه ده په طلاق باین سره لکه وینځه ازادول داعلت دےده زوال ده ملک رقبی ده پاره اوزوال ده ملک رقبی علت دےدزوال دملک متعی دپاره دی وجه نه ازادول داسبب دے ده زوال ده ملک متعی په واسطی ده زوال ده ملک رقبی سره اوزوال ده ملک متعی مسبب شواوزوال ده ملک رقبی سبب اوذکرده سبب اومراد مسبب داجایزدی دی وجه نه ذکرده لفظ تحریرچه سبب دےاومرادزوال ده ملک متعی چه مسبب دےیعنی طلاق داصحیح دی البته یوسړی خپلی وینځی ته اوی **طلقتک** اومراد ده طلاق نه ازادول اخلی نودانه ده صحیح ځکه طلاق مسبب دےاوازادول سبب دےاوقانون دادے چه چه ذکرده مسبب چه طلاق دےاومراد سبب چه ازادول دی دانه ده صحیح**فجازان یستعارعن الطلاق** دی سره جواب ذکرکوی ده یوسوال چه هرکله ده تحریرسره مجازاطلاق مراددےنوڅنګه چه صراحتاده طلاق لفظ ویلوسره طلاق رجعی واقع کیګی دغسی لفظ تحریرسره دی هم طلاق رجعی واقع شی کنه . ددی جواب کوی په **لایقال** سره چه مونږ

لفظ ده تحریرسره مجازاطلاق نه اخلوبلکه هغه څیز نه اخلوچه هغه ملک متعی ختموی اوهغه طلاق باین دےځکه طلاق رجعی سره ملک متعی نه زایله کیګی ځکه طلاق رجعی په صورت کی خاوندپه عدت کی رجوع کولےشی ۔ **وعلیٰ هٰذانقول ینعقدالنکاح** دی عبارت سره یومسئله تفریع کوی په مذکوره قاعده باندی چه ذکرده سبب اومرادمسبب جایزدےمسئله داده چه که یوځځه یوسړی ته اوایی چه خپل ځان تاته هبه کړے دےیاماده خپل ځان ته مالک کړے یی یاخپل ځان په تاباندی خرڅ کړےدےاوهغه سړے یی قبول کی نودی سره نکاح منعقدشوه کنه امام شافعی رحمه الله په نزنه ده منعقداواحناف په نزمنعقدده ځکه چه هبه تملیک اوبیع دری وانړه الفاظوپه معنیٰ حقیقی کی ده څیزمالک کیدل موجوددی ځکه مثلاده وینځی دذات مالک کیدل سبب دےدملک متعی دی وجه نه دغه مذکوردری وانړه الفاظ په واسطی ده ملک رقبی سره سبب دے ده ملک متعی اوذکرده سبب اومرادمسبب جایزدی دی وجه نه دغه دری الفاظ نه معنیٰ حقیقی په ځایی مجازاملک متعی اغستل جایزدی اومقصود په نکاح سره هم ملک متعی وی دی وجه نه دغه الفاظ سره نکاح صحیح شوه ۔**حتّٰی لاینعقدالبیع** یوسړےچاته اوایی چه ماداخپله وینځه تاله په نکاح سره درکړی ده اونیت په نکاح سره ده بیع یاده هبی کوی نودانیت دده نه دے صحیح ځکه نکاح مسبب دے اوبیع ،هبه سبب دےاوذکرده مسبب اومرادسبب دانه ده صحیح ۔ **ثم فی کل موضع یکون المحل** دی سره مصنف یوقانون ذکرکوی چه کوم ځایی یولفظ ذکرشی اوهلته ددی لفظ معنیٰ حقیقی اغستل ناممکن وی نوبیامعنیٰ مجازی متعین ده یعنی هلته معنیٰ مجازی اغستودپاره نیت ته ضرورت نشته ځکه نیت ته ضرورت هلته وی چه لفظ کی احتمال ده دوومعنووی دی وجه نه که یوسړےیوی ازادی ښځی ته اوای **ملکینی نفسک** ماده خپل ځان مالک که نوښځی ورته جواب کی اوی چه **ملکتک نفسی** ته ماده خپل ځان مالک کړے یی نودی سره نکاح منعقدشودلته ده ملک معنیٰ حقیقی ناممکن ده ځکه څوک ده ازادی ښځی ده ذات نشی مالک کیدےنومعنیٰ مجازی متعین شوه چه نکاح ده البته الفاظ کنایی کی نیت ته ضرورت شته ځکه هغی کی ده طلاق سره ده نورومعنوهم احتمال وی لکه یوسړے خپلی ښځی ته اوایی چه ماته ازاده کړی یی نودیکی احتمال ده طلاق هم دےاودااحتمال هم دے چه ته می ده کارونونه ازاده کړے یی دی وجه نه دلته نیت ته ضرورت دےچه ده کمی معنی نیت یی کړےوی هغه به اخلی ۔ وس په دی قاعده باندی اعتراض رازی چه مخکی په بحث ده حقیقت اومجازکی تیرشوی ووچه ده صاحبین په نزباندی ده مجازی معنی ده صحیح کیدوشرط داد ےچه معنیٰ حقیقی به هلته ممکن وی که معنیٰ حقیقی ممکن نه وه نوکلام لغودےنوبیع اوهبه حقیقی معنیٰ ملک راتلل دی اوداپه ازادی ښځی کی ناممکن دی نومعنیٰ مجازی دی هم صحیح نشی کنه حلانکه دلته ده صاحبین په نزهم په دی الفاظ سره نکاح کیګی ۔ مصنف ددی جواب کوی چه ده ازادی ښځی ده ذات مالک کیدل ممکن دی یعنی ملک رقبی پری رالتے شی چه داښځه مرتده شی اودارحرب ته لاړه شی بیا یی مسلمانان په قیدکی راولی نوداوینځه شوه اوپه وینځی باندی ملک رقبی راتلےشی **وصارهذانظیرمس السماء** دی سره مثال ذکرکوی ددی مذکوری مسئلی چه یوسړےقسم اکی چه زه به اسمان ته ګوتی وړم یاددی خاورونه به سره زرجوړوم نوداسړےحانث شوځکه داکارونه ممکن ده په طورده کرامت یامعجزےباندی ۔

# فصل فی الصریح والکنایة

صریح په لغت کی واضحه اوکولاوځیزته وایی اوپه اصطلاح ده اصولیینوکی صریح هغه لفظ ته وایی چه یومعنیٰ کی ډیر استعمال شوے وی چه کله هم دغه لفظ ذکرشی نوذهن بغیرده سه قرینی اودلیل نه دغه معنیٰ طرف ته ځی لکه لفظ ده بیع چه ده خرڅولوپه معنیٰ کی اولفظ ده شراء چه ده اغستلوپه معنیٰ کی استعمالیګی چه کله هم داالفاظ ذکرشی نوذهم فوراخرڅولواواغستلوطرفته حی نولفظ دی بیع صریح دےپه معنیٰ ده خرسولواولفظ ده شراء صریح دے په معنیٰ ده اغستلوکی ده صریح دوه حکمونه دی (۱)چه لفظ په کمه معنیٰ کی صریح وی په هغی باندی عمل کول واجب دی (۲)چه دغه لفظ نه دغه معنیٰ اغستلودپاره نیت ته ضرورت نشته که دالفظ په هرصورت سره ذکرشی دغه معنیٰ به تری اغستے شی لکه لفظ ده طلاق چه داصریح دے په معنیٰ ده زوال ده قید نکاحی بیاداالفظ ده طلاق که جمله خبری لکه یوسړے خپلی ښځی ته اوایی چه **طلقتک** یانداءلکه **یاطالق** یاصفت ذکرشی لکه **انت طالق** په دی ټلولوصورتونوکی طلاق واقع دے که نیت وی کنه دغسی لفظ ده **حریت** چه صریح دے په معنیٰ ده غلام ده ازادی کی وس که دالفظ څوک خپل غلام ته هرصورت سره وایی دغه غلام ازادیګی نیت ته ضرورت نشته لکه انت حر،حررتک،یاحر۔ **وعلیٰ هذاقلناان التیمم** دی عبارت سره یوه اختلافی مسئله ذکرکوی په باره ده تیمم کی په مینځ ده شوافع اواحناف کی ۔ ده تیمم په باره کی ده امام شافعی رحمه الله دوه قوله دی اول داچه تیمم ده سره طهارت نه دےیعنی تیمم دسره بی اودسی نه لریکیګی بلکه پټوی یی دی وجه نه یوسړی تیمم کړے وواوپه مانځه کی یی اوبه الیدی نودده تیمم مات دےوس دلته داسړے خوبی اودسه شوے نه دےپته الګیده چه دده بی اودسی موجوده وه خوپټه وه وس ښکاره شوه دویم قول دادےچه تیمم طهارت ضروری دےده عذراومجبوری ده وجه نه بقدرده ضرورت اوبوقت ضرورت جایزشوے دے حکه ده خاوروسره خوبدن نه سخاکیګی احناف په نزباندی تیمم طهارت مطلقه دے لکه ښنګه چه اودس طهارت مطلقه دے حاصل داشوچه ده امام شافعی رحمه الله په نزباندی تیمم طهارت ضروری دےاواحناف په نزباندی طهارت مطلقه دےپه دی اختلاف باندی مسایل تفریع کوی (۱)ده احناف په نزلکه ښنګه چه اودس ده مانځه دپاره ده وخت نه مخکی کول جایزدی دغسی تیمم هم ده وخت نه مخکی کول جایزدی اوشوافع په نزتیمم طهارت ضروری دےبوقت ضرورت جایزدے اووخت نه مخکی ضرورت نشته دو وجه نه تیمم وخت نه مخکی نشی کولے(۲)لکه ښنګه چه په یواودس باندی یونه زیات مونځونه کولےشی دغسی په یوتیمم سره هم کولےشی شوافع په نز نشی کولےځکه تیمم بقدرضرورت جایزدےنوبل مونځ له به بل تیمم کوی (۳)ده احناف په نزباندی متیمم ده متوضی امام جوړیدےشی ځکه دوانړه طهارت مطلقه دی اوشوافع په نزنشی ځکه تیمم طهارت ضروری دےاو اودس طهارت مطلقه (۴)ده احناف په نزکه یوسړےده اودس ده وجه نه دده بدن یااندام ته ده هلاکت خطره وی نودےتیمم کولےشی دارنګی که داخطره نه یی نوهم تیمم کولےشی چه ده اوبواستعمال دته نقصان رسوی بیاکه ده هلاکت خطره وی کنه خودےتیمم کولےشی اوشوافع په نزکه ده هلاکت خطره نه وی نودے تیمم نشی کولے ځکه تیمم ده ضرورت ده وجه نه جایزوواودلته ضرورت نشته (۵)ده احناف په نزکه ده یوسړی دایقین وی چه که زه اودس شوروع کوم نوزمانه ده اختریاده جنازے مونځ زی نودے تیمم کولےشی ځکه ده ددی قضانشته بغیرده ولی ده میت نه ځکه دےجنازه بیاروسته هم کولےشی ۔ اوده شوافع په نزدےده اختر اوده جنازےمونځ دوانړه کولے شی نوتیمم ته ضرورت پاتی نشو۔

## والكناية

په اصطلاح ده اصول فقه کی کنایه هغه لفظ ته وایی چه په هغی کی احتمال ده ډیرومعنووی دی وجه نه ده هغی معنیٰ مراده نه وی معلومه چه کومه یوه ده دغسی هغه لفظ ته هم کنایی وایی چه ده هغی معنیٰ مجازی مشهوره نه وی نوده حقیقی اومجازی دواړومعنواحتمال وی پکی ـ الفاظ کنایی په ذریعه باندی حکم ثابتولولره دوه ځیزونوکی یوضروری دےیونیت اوبل قرینه ځکه هرکله چه یولفظ کی ده ډیرومعنواحتمال وی نودیکی ده یوی معنیٰ تعین ضروری دےدی دپاره چه تردد ختم شی داتعین به یاپه نیت سره وی یاپه قرینی سره وس چه کمه لفظ کی ده یوی معنیٰ تعین نه وی شوےپه نیت یاقرینی سره نودی سره یوحکم هم نشی ثابتولےبیاهرکله چه ده لفظ کنایی معنیٰ مراده ظاهره نه وی نوده طلاق په الفاظ کی بینونت اوتحریم ته الفاظ کنایی وایی ځکه باین معنیٰ جداکیدل دی نکاح نه هم دی اوحسن اوجمال کی ده نورونه جداکیدل هم دی دغسی انت حرام کی حرام په دی معنیٰ هم دےچه ته په ماحرامه یی اوپه دی معنیٰ هم دے چه ته زمانه علاوه په بل چاحرامه یی وس چه دی الفاظ کی نیت ده طلاق یاقرینه ده طلاق نه وی نوطلاق نه واقع کیګی ـ په لفظ ده بینونت اوتحریم باندی اعتراض رازی چه ځنګه په لفظ ده طلاق سره سره طلاق رجعی واقع کیګی دغسی ده په دی الفاظ سره هم طلاق رجعی واقع شی کنه چه دی الفاظ سره طلاق باین واقع کیدومطلب دا نه دے چه داالفاظ دی بالکل ده لفظ ده طلاق په شان شی بلکه ده طلاق ده نوروالفاظ کنایوپشان ددی دوو الفاظ هم معنیٰ مراده نه ده ځکاره ـ

**ویتفرع منه حکم الکنایات** ده مخکی بیان نه دامعلومه شوه چه الفاظ کنایی مثلاانت باین اوانت حرام دا الفاظ ده لفظ طلاق پشان نه دی یعنی ځنګه چه لفظ طلاق سره طلاق رجعی واقع کیګی دغسی دی الفاظ سره نه واقع کیګی اوهرکله چه الفاظ کنایی کی معنیٰ مراده نه وی معلومه نودی باندی حدشرعی نشی قایمیدے ځکه یوسړی په ځان باندی ده زنا یا ده غلا اقرار اکونوترهغه وخت پوری پری حدنشی واقع کیدےترڅوچه ده دااقرار په صریحی الفاظ سره نه وی کړی دغسی که یوچاړاسړی په اشارے سره ده زنا اقرار اکونوپه ده حدنشی قایمیدے ځکه ددی اشارے بل څه مطلب هم کیدیشی دغسی که چاپه بل باندی تهمت دی زناالګوواوهغه یی تصدیق اکواوده ثبوت ده زنالره شرعی ګواهان نه وونوحدقذف به دی اولنی سړی له ورکولے شی تصدیق کونکی له حد نشته ځکه کیدیشی ده په بل څه خبری کی تصدیق کړے وی غرض داچه ده حدود شرعیوده اجراء ده پاره داسی دلیل ضروری دےچه هغی کی هیڅ شبه نه وی ـ

## فصل فی المتقابلات

دی فصل کی دریم تقسیم ده لفظ په اعتبار ده ظهور ده معنیٰ سره داپه څلورقسمه دےظاهر،نص،مفسر،محکم اوددی مقابل څلوردی خفی ،مجمل ،مشکل، متشابه ـ **فاالظاهر** دی سره تعریف ده ظاهراوده نص کوی ظاهرهغه کلام ته وایی چه ده هغه په مطلب باندی بغیرده سوچ اوفکر نه پوهیګی اوکلام چه ده کوم مقصد ده پاره ذکرکیدیشی هغی ته نص وایی لکه رایت خالداحین جاءنی القوم چه کله مقصود ده خالدلیدل بیانول وی چه ماخالدلیدلےووپه هغه وخت کی چه قوم راغےنوداکلام ده خالدده لیدوباره کی نص دےاوده قوم ده راتلوعلم نوداددی کلام نه په نفس سماع ددی کلام سره هم

معلومیگی سوچ تہ ضرورت نشتہ دی وجہ نہ داکلام پہ علم دہ مجی دہ قوم کی ظاھردےکتاب کی مصنف مثال دا ایات ذکرکڑے دےچہ احل الله البیع وحرم الربوااددی ایات دہ ذکرکولومقصدفرق بیانول دی پہ مینځ دہ صد اوبیع کی حکہ کفارودادوانړہ حلال ګنړل نودی باندی رداکوچہ دادوانړہ یوشان نہ دی بلکہ بیع حلالہ دہ اوصدحرام دےنودہ ایات دہ بیانولومقصد فرق بیانول دی پہ مینځ دہ صد اوبیع کی دی دہ وجہ داایات ددی پہ باری نص شواودی ایات نہ پہ نفس سماع سرہ حل دہ بیع اوحرت دہ ربوامعلومیگی دی وجہ نہ داایات دی پہ بارہ کی ظاھرشو۔ **وکذالک قولہ تعالیٰ فانکحوا** داایت ذکرشوے دہ پارہ دہ بیان دہ عدددہ زنانوچہ یووخت کی پہ نکاح کی څلور پوری ساتلےشی دی وجہ بیان عدد کی داایات نص دےاوبل داچہ ددی ایت پہ نفس سماع سرہ حلت دہ نکاح معلومیگی نودی بارہ کی داایت ظاھرشو۔ **لاجناح علیکم ان طلقتم** دی سرہ دریم مثال ذکرکوی چہ دا ایات ذکرشوے دی دپارہ چہ کمہ زنانہ سرہ نہ جماع شوی یی اونہ مھرمقرر شوے یی اوطلاق ورکړی نودی خځی لرہ نہ نفقہ واجبہ دہ اونہ مھرمثل نہ نصف مھربلکہ صرف متعہ واجبہ دہ نوداایات دی مسلہ کی نص شوځکہ ددی ایات دہ ذکرکولومقصددادےاودی ایات پہ نفس اوریدوسرہ دامعلومہ شوہ چہ دہ طلاق ورکولومالک سړےدےدہ خځی اجازت تہ ضرورت نشتہ دارنگی دامسلہ ھم معلومہ شوہ چہ مھرذکرکولونہ بغیرھم نکاح صحیح دہ لکہ دا ایات چہ **اوتفرضوالھن فریضۃ** چہ مھرنہ دے مقرراوطلاق ورکړی اوطلاق ھلہ واقع کیگی چہ مخکی نکاح موجودوی ۔ **من ملک ذارحم محرم** دی سرہ څلورم مثال ذکرکوی ددی حدیث دہ ذکرکولومقصددادے چہ څوک دہ خپل رشتہ دار غلام مالک شونونفس شراء سرہ دغہ غلام ازاد دےکہ دہ ازادولواراده یی وی کنہ نودی مسلہ کی داحدیث نص شواودی سرہ دامسلہ معلومہ شوہ چہ پہ شراء دہ غلام سرہ سړے ددی مالک کیگی نودیکی داحدیث ظاھردے۔

**وحکم الظاھروالنص** دی سرہ مصنف حکم ذکرکوی دہ نص اودہ ظاھرچہ پہ دی باندی عمل کول واجب دی کہ دوانړہ عام وی اوکہ خاص خودی احتمال سرہ چہ دینہ بل سہ ھم مرادکیدیشی لکہ څنگہ چہ لفظ کی احتمال دہ حقیقت اودہ مجازوی دغسی پہ ظاھراونص کی احتمال دہ تاویل اودہ تخصیص وی دہ تاویل صحیحہ مثال لکہ داایات **احل الله البیع** دیکی لفظ دہ بیع عام دے ھرقسم بیع تہ شامل دےیعنی ھرقسم بیع حلالہ دہ اودا‌ایات ظاھرھم دے پہ دی معنیٰ کی خوددی ظاھری معنیٰ چہ ھرقسم بیع حلالہ شی ھغہ احادیث خلاف دی چہ ھغی کی دہ بعض اقسام دہ بیع نہ منع راغلی دہ لکہ ھغہ بیع چہ ھغی کی دھوکہ وی لکہ یوسړے اوایی چہ زہ بہ دی تالاب تہ جال ولم چہ څومرہ میان پکی ھم راوختل ھغہ بہ ستاپہ دومرہ روپی یی نودیکی داپتہ نہ لگی چہ څومرہ بہ راخیجی دی وجہ نہ دابیع ناجایزدہ دارنگی دہ داسی څیزدہ خرسولونہ ھم منع راغلی دہ چہ دہ انسان پہ طاقت کی حوالہ کول نہ وی او نہ ورسرہ موجودوی دی وجہ نہ داقسام دہ بیع دہ لفظ دہ بیع دہ عموم نہ خارج شو۔**وعلیٰ ھذاقلنااذاشتریٰ** دی عبارت سرہ مصنف دہ حکم دہ ظاھراودہ نص نہ یوہ مسئلہ مستنبط کوی دینہ مخکی پہ طوردہ تمھیدسرہ دایادول ضروری دی چہ وارث پہ دوہ قسمہ دےیو ھغہ قسم چہ دہ ھغوی پہ دہ میت پہ مال کی خصوصی حصہ وی لکہ درمہ،نیمہ وغیرہ دوی تہ ذوی الفروض وایی دویم قسم ھغہ دی چہ ھغوی دہ دی ذوی الفروض نہ پاتی مال اخلی دوی تہ عصبہ وایی بیا داعصبہ پہ دوہ قسمہ دی یوھغہ چہ دہ میت رشتہ داروی دوی تہ عصبہ نسبی وایی لکہ رور،ترہ وغیرہ اوبل ھغہ چہ مثلادامیت غلام وواوھغوی دےازادکړےوی دوی تہ عصبہ سببی وایی کلہ چہ عصبہ نسبی نہ یی نودہ ذوی الفروض نہ پاتی مال

دوی اخلی اودی حق اغستوته حق ده ولاء وایی وس مسئله ده کتاب داده چه که یوسړی خپل رشته دار غلام واغستونودےده هغه مالک شوبیاده حدیث ده وجه نه دغه غلام ازاد شواوکم غلام چه ده چاده ملک نه ازادشی دغه سړےددی غلام معتِق دےاودےددغه غلام ده ولاءحق داردےکه چرته دده عصبه نسبی نه وو.**وانمایظهرالتفاوت** فرق په مینځ ده ظاهراونص کی دادےچه ظاهرنه کمه معنیٰ په نفس اوریدوسره ذهن ته راشی نوکلام ده راوړو مقصد بیان ددغه مسئلی نه وی اونص نه چه کمه مسئله په نفس اوریدوسره ذهن ته راشی نوکلام ده راوړومقصدهم بیان ددغه مسئلی وی اوده کمه خبری ده بیان ده پاره چه کلام ذکرکیګی هغی طرف ته ذهن زر زی دی وجه نه په اعتبارده فصاحت ده معنیٰ سره نص ډیرقوی دے ده ظاهرنه اوکله چه تعارض راشی په مینځ ده نص اوظاهر کی نوترجیح به نص له ورکولےشی دی ده پاره مصنف مثالونه ذکوکوی ۔ (اول) مثال داچه یوسړی خپلی ځځی ته اوی چه طلقی نفسک ځان له طلاق ورکړه اودی ځځی په جواب کی اوی چه ابنت نفسی وس داکلام چه ابنت نفسی دےددی په نفس اوریدوسره داخبره ذهن ته رازی چه ځځی خپل ځان له طلاق باین ورکړوخوسړی دی ځځی له اختیارده طلاق رجعی ورکړےدےځکه طلقی لفظ صریح طلاق دےاودینه مرادطلاق رجعی دےاودی ځځی ددی په جواب کی ابنت نفسی ویلی دی نوکلام ده ځځی ظاهردےپه طلاق باین کی اونص دےپه طلاق رجعی کی اومونږمځکی ویلی ووچه کله تعارض راشی په مینځ ده ظاهراونص کی نوترجیح به نص له ورکولےشی دی وجه نه دلته طلاق رجعی واقع دے۔(دویم) مثال ذکرکوی **وکذالک قوله علیه السلام لااهل العرینة** سره چه ده عرینه قبیلی خلق مسلمانان شواوراغله مدینی ته خوهلته دوی بیماران شونوده بیت المال اخان چه کوم ځایی کی وو هلته دوی لره نبی علیه السلام ولیګل اوورته یی افرمایل چه **اشربوامن ابوالهاوالبانها** وس ددی حدیث په نفس سماع سره داخبره معلومیګی چه بول ده مایوکل لحمه څکل حلال دی دی وجه نه داحدیث په دی خبره کی ظاهرشوخوبل حدیث دےده نبی علیه السلام چه **استنزهومن البول** ددی حدیث په نفس سماع سره دامعلومیګی چه ده بول نه ځان ساتل لازم دی دی وجه نه داحدیث دی خبری په باره کی ظاهرشواودارنګی داحدیث راوړے شوےهم دےدی بیان لره نونص هم شودی خبره کی نوده اشربوا من ابوالها ده ظاهراواستنزهو ده نص په مینځ کی تعارض راغےاول نه جوازده بول ده څکلومعلومیګی اوده دویم نه حرمت دی وجه نه ترجیح به نص له ورکولےشی نوده بول نه ځان ساتل لازم شوهیڅ حالت کی هم څکل جایزنه دی بیااول حدیث چه اشربوادےددی نه جواب دادےچه بعض روایات کی ورسره لفظ ده ابوال نشته صرف لفظ ده البان دےپکی( ۲)داچه داحدیث منسوخ دے(۳)داچه داحکم دغه خلقوپوری خاص دے(۴)داچه نبی علیه السلام ته په ذریعه ده وحی سره معلومه شوی وه چه ددوی علاج په دیکی دے۔(دریم) مثال ذکرکوی په **وماسقته السماء** سره ددی حدیث په نفس سماع سره داخبره ذهن ته رازی چه کمه زمکه ده باران په اوبوسره اوبه کیګی ده هغی په پیداوار کی عشرلازم دےاودی خبری دپاره داحدیث راوړےشوےهم دےنوپه دیکی نص هم شووس بل حدیث دےچه لیس فی الخضراوات صدقة دیکی لفظ ده صدقة مشترک دےپه زکوة اوعشرکی یعنی ده دوانړومعنواحتمال دےپکی خودلته معنیٰ ده زکوة نه ده مراده ځکه چه کله ددی خضراوات قیمت نیصاب ته ارسی نوپه حولان حول سره پکی زکوة واجبیزی دی وجه نه دلته مرادنفی ده عشرده اولفظ مشترک کی چه کله په دلیل سره یوه معنیٰ مرادکیدوله ترجیح ورکړےشی نودغه لفظ ته موول وایی نومعلومه شوه چه داحدیث په نفی ده عشرکی موول دےنودلته په مینځ ده نص اوموول کی تعارض راغےځکه اول نه معلومیګی چه عشرپکی شته ځکه هغه حدیث عام دےخضراوات

تہ هم شامل دےاودویم نہ معلومیگی چہ عشرپہ خضراوات کی نشتہ اوکلہ چہ پہ نص اوموول کی تعارض راشی نوترجیح بہ نص لہ ورکولےشی دی وجہ نہ دہ زمکی هرپیداوار کی عشرلازم دےځکہ نص قطعی الدلالت دےاوموول ظنی الدلالت دے۔

## **واماالمفسر**

مفسرهغہ لفظ تہ وایی چہ متکلم پخپلہ دہ هغی مقصدپہ داسی طریقہ واضحہ کړے یی چہ دغہ لفظ عام وی نودہ تخصیص اوکہ خاص وی نودہ تاویل احتمال پکی نہ وی ددی دہ پارہ پہ کتاب کی دری مثالونہ ذکرکوی (اول )داچہ پہ **فسجدالملایکۃ** کی الملایکۃ جمع معرف باالام دہ اودلالت کوی پہ عموم باندی ټول ملایک تہ شامل دےالبتہ دیکی احتمال دہ تخصیص شتہ چہ دینہ دی مراد بعض ملایک شی لکہ **اذقالت الملایکۃیامریم** کی **الملایکۃ** نہ مراد صرف جبریل علیہ السلام دے۔ خودلتہ بیافسجدالملایکۃ پسی اللہ لفظ دہ کلهم ذکرکړونہ هغہ تخصیص ختم شو۔بیاپہ سجدہ کی احتمال دہ تاویل دےچہ ملایک جداجداسجدہ کړےوہ اوکہ پہ یوځاےباندی نوورپسی لفظ دہ اجمعون سرہ دغہ احتمال هم ختم شوچہ سجدہ ټولوملایک پہ جمع باندی کړےدہ دی وجہ نہ دداایت مفسرشو۔(دویم مثال)مسئلہ دادہ چہ دہ شریعت پہ اصطلاح کی متعہ دہ یوښوورځودہ پارہ نکاح کولوتہ وایی بیاکہ دغہ ورځی متعین وی اوکنہ داپہ ابتداء دہ اسلام کی جایزوہ خوروستہ منسوخ شوہ وس کہ یوسړےاوایی چہ **تزوجت فلانۃ شهرابکذا** مادہ فلانکی ځځی سرہ پہ دومرہ پیسوباندی تریوی میاشت پوری نکاح کړےدےدلتہ لفظ دہ تزوجت ظاهردےپہ نکاح کی البتہ احتمال دہ متعی پکی هم شتہ ځکہ نکاح وایی ملک بضعی حاصلولوتہ اودامعنہ پہ متعہ کی هم دہ نوتزوجت کی احتمال دہ نکاح اودہ متعی دوانړودےبیاقایل دہ خپل قول تفسیراکوپہ شهراسرہ نووس تزوجت لفظ ظاهرشوپہ نکاح کی اومفسرشوپہ متعہ کی اوکلہ چہ تعارض راشی پہ مینځ دہ ظاهراومفسر کی نوترجیح بہ مفسرلہ ورکولےشی دی وجہ نہ ددی قول نہ مرادمتعہ دہ نکاح نہ دے(دریم مثال)یوسړی اوی چہ **لفلان علی الف من ثمن هٰذاالعبد** داکلام راوړےشوےدہ پارہ دہ اقرارکولوپہ ځان باندی دہ زر روپونودانص شوپہ دی اقرارکی ددی نص داتقاضادہ چہ دےبہ فی الحال زر روپی ورکوی البتہ پہ دی قول کی احتمال دہ تفسیرشتہ چہ پہ دہ باندی دازر روپی دہ سہ دی بیامن ثمن هٰذاالعبد داتفسیر دے دہ مخکی چہ دازر روپی دہ غلام پہ بدل کی پہ دہ باندی لازم دی نو وس داقول مفسرشوپہ دی کی چہ کلہ دی سړی تہ داغلام حوالہ کړی شونودےبہ هلہ روپی ورکوی یعنی فی الحال پہ دہ باندی دانہ دی لازم نووس دلتہ تعارض راغے پہ مینځ دہ نص اودہ مفسرکی او کلہ چہ تعارض راشی پہ مینځ دہ نص اودہ مفسر کی نوترجیح بہ مفسرلہ ورکولےشی (څلورم مثال)یوسړےاوایی چہ **لفلان علی الف** داقول ظاهردے پہ اقراردہ زر روپو کی وس کہ ورسرہ تعین دہ کرنسی ونہ کوچہ دہ کم ځایی زر روپی مراد دی نوبیادانص دےپہ دیکی چہ پہ دہ باندی ددغہ ځایی زر روپی لازمی دی پہ کم ځایی کی چہ دےوس۔البتہ دہ ورسرہ دا اوی چہ من نقدبلدکذاوس داقول ددہ مفسرشووس دی قول کی تعارض راغےدہ نص اومفسرنص تقاضاکوی چہ پہ دہ باندی زر روپی دہ نقدبلدلازم دی اومفسرتقاضاکوی چہ پہ دہ باندی ددغہ مخصوص ځایی کرنسی لازم دہ کمہ چہ دہ ذکرکړی اوکلہ چہ تعارض راشی دہ نص اودہ مفسرنوترجیح بہ مفسرلہ ورکولےشی ۔

## **واماالمحکم**

تعریف ده محکم دادے چہ داهغہ کلام تہ وایی چہ ددی مراداومقصدپہ نسبت ده مفسرباندی زیات قوی اومظبوط وی چہ احتمال ده تبدیلی اوده نسخ پکی نہ وی ددی مثال لکہ **ان الله بکل شی علیم** دارنگی دامثال چہ **ان الله لایظلم الناس شیا** یعنی علم ده الله پہ هرڅیزباندی دےاوالله هیڅ قسم ظلم پہ چاباندی هم نہ کوی داداسی کلام دےچہ پہ دیکی هیڅ قسم تبدیلی اونسخ نشی راتلےبیانسخ پہ دوه قسمہ دےیوداچہ کلام کی داسی یوه معنیٰ وی چہ ده هغی ده وجہ نہ احتمال ده نسخ ختم شوےیی دیتہ محکم لعینہ وایی اودویم هغہ چہ پہ وفات ده نبی علیہ السلام سره احتمال ده نسخ ختم شوےیی دیتہ محکم لغیره وایی تعریف کی ده **لایجوزخلافہ** مطلب داچہ ددی نہ خلاف کول بالکل جایزنہ دی یعنی احتمال ده تبدیلی یاده نسخ پکی بالکل نہ وی ۔ **وفی الحکمیات** دی سره مثال ذکرکوی ده محکم پہ احکام شرعیہ کی چہ مثلایوسړےاوایی چہ لفلان علی الف من ثمن هٰذاالعبددی کلام چہ علی الف دی دیکی ډیراحتمالات دی چہ دازر روپی پہ ده باندی ده سہ دی یاده قرض دی یاده غصب کړی دی بیاهرکلہ چہ ده من ثمن هٰذاالعبداوی نودغہ ټول احتمالات ختم شووس داکلام محکم شودلتہ یواعتراض رازی چہ دامثال خوپہ مفسرکی ذکروونومطلب داشوچہ محکم اومفسریوشی دےحلانکہ ده محکم پہ تعریف کی ذکرووچہ محکم ده مفسرپہ نسبت ډیرقوی اومضبوط دےجواب دادے چہ پہ احکام ده شریعت کی پہ مفسراومحکم کی فرق نشتہ بل جواب داچہ من ثمن هٰذاالعبدحقیقتامحکم نہ دےبلکہ دامحکم ددی وجہ نہ دےچہ دیکی احتمال ده نسخ ختم شوےدےځکہ وس داپتہ ولگیده چہ دازر روپی ده غلام ده وجہ نہ دی ده بل سہ ده وجہ نہ نہ دی ۔ **وحکم المفسروالمحکم** دی سره حکم ذکرکوی ده مفسراوده محکم چہ دی دواړوباندی قطعی اویقینی طورسره عمل کول واجب دی یعنی دی دواړوباندی عمل هم لازم دےاوعقیده اویقین پری هم ساتل لازم دی دلتہ داسوال رازی چہ هرکلہ پہ محکم اومفسرکی فرق دےپہ اعتبارده قوت سره نوپکارده چہ ددی حکم یی هم جداذکرکړےوےجواب دادےچہ محکم اومفسردواړوکی مساوات دےپہ دری خبروکی اول داچہ پہ دواړوباندی عمل کول لازم دی دویم داچہ پہ دواړوباندی یقین اوعقیده ساتل لازم دی دریم داچہ دواړه احتمال ده تبدیلی نسخ تاویل نہ لری نوڅنگہ چہ ظاهراونص برابردی بہ دیکی چہ دواړه احتمال ده تاویل اوده تخصیص لری دی وجہ ددوی حکم یی یوځایی ذکرکړےوودغسی دی دریوڅیزونوکی مفسراومحکم برابردی ۔ دی وجہ نہ یی ده دواړوحکم یوځایی ذکرکو۔

**ثم لهذه الاربعة اربعة اخریٰ** مخکی څلورڅیزونہ ذکرشوظاهر،نص،مفسر،محکم وس ددی ضداومقابل ذکرکوی چہ خفی ، مشکل ، متشابہ ، مجمل ۔ ضد مطلب دا چہ دادواړه پہ یوځای کی اوپہ یووخت کی نشی جمع کیدےڅنگہ چہ مخکی څلورپہ اعتبارده ظهور سره مختلف ووسہ پکی ډیرظاهرووااوسہ پکی لگ دغسی داڅلورپہ اعتبارده خفاء سره مختلف دی سہ پکی ډیرخفی دی اوسہ لگ ۔ وجہ ده حصر پکی داده چہ لفظ بہ خالی نہ وی یابہ پکی خفاء پخپلہ ددی لفظ اوده صیغی ده وجہ نہ وی یعنی داسی لفظ بہ وی چہ معنیٰ یی واضحہ نہ وی یابہ پکی خفاء ده بل سہ عارض ده وجہ نہ یی کہ خفاء پکی ده لفظ نہ علاوه ده بل سہ عارض ده وجہ نہ وه نودیتہ خفی وایی اوکہ خفاء ده لفظ اوصیغی ده وجہ نہ وه نوبیابہ خالی نہ یی یابہ داخفاء ده قراین ده وجہ نہ لری کیدیشی یانہ کہ لری کیدیشوه نومشکل اوکہ نشوه لری کیدےنوبیابہ خالی نہ وی یابہ ده متکلم ده طرفہ ددی ده وضاحت امیدوی یانہ کہ وونومجمل اوکہ نہ وونومتشابہ نوڅنگہ چہ ظاهرکی ظهورلگ یی دغسی پہ خفی کی خفاء لگہ یی دی وجہ نہ ده

ظاهرضدخفی شوبیاپہ اعتبارده ظاهرسره پہ نص کی ظهوررزیات یی دغسی پہ اعتبارده خفی سره پہ مشکل کی خفاء زیاتہ وی دی وجہ نہ ده نص ضد مشکل شواوپہ نسبت ده نص سره پہ مفسرکی ظهوررزیات یی دغسی پہ نسبت ده مشکل پہ مجمل کی خفاء زیاتہ یی دی وجہ نہ ضد ده مفسرمجمل شو۔

**<u>فاالخفی ماخفی المراد</u>** دی سره ده خفی تعریف کوی چہ خفی هغہ لفظ دےچہ ددی پہ معنیٰ مراده کی خفاء ده لفظ اوصیغی ده وجہ نہ نہ وی بلکہ ده بل عارض ده وجہ نہ وی یعنی ده سہ عارض ده وجہ نہ دالفظ پہ خپل بعض افرادباندی پہ صادقیدوکی خفاء وی نودغہ لفظ دی بعض افرادوده حکم باره کی خفی گنړلےکیگی ۔ **<u>حکم ده خفی</u>** دادےچہ دیکی سوچ اوفکرکول لازم دی چہ سبب ده خفاء اپیژندلےشی چہ ایاددی لفظ معنیٰ مراده پہ دی بعض افرادوباندی پہ زیات والی سره صادقیگی اوکہ کم والی سره ۔

**<u>مثالہ فی قولہ تعالیٰ</u>** مصنف پہ کتاب کی ده خفی دپاره دری مثالونہ ذکرکړی دی اول مثال **<u>والسارق والسارقة</u>** داایات ظاهردے پہ دیکی چہ ده غل نہ لاس کټ کول لازم دی بیا**<u>السارق</u>** لفظ عام دےهرغل تہ شامل دےالبتہ پہ باره ده طرارجیب کتره اونباش کفن چورکی دالفظ خفی دےچہ دوی باندی ده سارق حکم صادقیگی اوکنہ خفاء پکی ځکہ ده چہ عرف کی دوی تہ سارق نہ ویلےکیگی بیاهرکلہ چہ دیکی غوراوفکراکړےشونوداخبره معلومہ شوه چہ ده سرقی معنیٰ پہ طرارکی زیاتہ ده ځکہ سرقہ وایی ده چامال محفوظہ پہ پټہ باندی اغستل اوطرارده بل مال اخلی پہ خکاره باندی پہ خپل مهارت سره نوپہ اعتبارده جرم سره طراراعلیٰ اوسارق ادنیٰ دےنوکلہ چہ ده سارق لاس کټ کول لازم دی ده نوده طرارلاس خوپہ طریق اولیٰ سره لازم دی کټ کول ۔ اوهرکلہ چہ ده نباش پہ باره کی غوراوفکراکړےشونودامعلومہ شوه چہ ده سارق معنیٰ پہ نباش باندی صدقیگی خوپہ کم والی اونقصان سره ځکہ سرقہ مال محفوظہ اغستل دی اوکفن مال محفوظہ نہ دےدی وجہ نہ داشبہ پیداشوه چہ نباش ده سارق ده سزامستحق دےاوکنہ اوقانون دادےچہ حدودپہ شبهات سره ساقطیگی دی وجہ نہ نباش لہ سزاده قطع ده یدنشتہ بلکہ تعزیری سزابہ حاکم ورکوی چہ څنگہ هغہ مناسب گنړی ۔ **<u>الزانیة والزانی</u>**

دادویم مثال ذکرکوی ده پاره ده خفی داایت ظاهردےدی باره کی چہ هرزناکارتہ لہ بہ سل کوړی ورکولےکیگی البتہ سوال دادےچہ آیاڅوک چہ قوم ده لوط علیہ السلام پشان عمل کوی نوهغہ لہ بہ هم دغہ حدزنا ورکولےشی کنہ نوداایات دی باره کی خفی دےځکہ عرف کی دغہ سړی تہ زانی نہ ویلےکیگی دی وجہ نہ دده پہ زانی کیدوکی خفااوشبہ راغلہ نوامام صیب فرمایی چہ ده لره حدزنانشتہ ځکہ الحدودتندرء باالشبهات بلکہ ده لره بہ تعذیری سزاورکولےکیگی ځکہ ده زانی معنیٰ پہ ده باندی صادقیگی پہ کم والی سره ۔ **<u>ولوحلف</u>** دادریم مثال دےده پاره خفی چہ یوسړی قسم اکوچہ زه بہ فاکهہ نہ خورم نوداکلام دده ظاهردےپہ باره ده هغہ میووکی چہ پہ طورده لذت خوړلےکیگی خووس سوال دادے چہ کہ ده انگوریاانار اخوړه نودےحانث دےاوکنہ نودیکی خفاءده ځکہ چہ عرف کی معنیٰ ده فاکهہ پہ انگوراوانارباندی صادقیگی پہ طورده کم والی سره ځکہ انگوراوانارپہ طورده لذت نہ خوړلےکیگی بلکہ پہ طورده غذاء سره خوړلےکیگی دی وجہ نہ پہ خوړلوده انگوراوانارسره دےنہ دےحانث ۔

## واماالمشکل

دی سره مصنف بحث ده مشکل کوی مشکل هغه لفظ ته وایی چه هغی کی خفاء ده لفظ اوصیغی ده وجه نه وی فرق په مینځ ده خفی اومشکل کی دادےچه خفی کی خفاء لګه وی اومشکل کی خفاء ډیره وی بل داچه خفی نه خفالری کولوده پاره صرف طلب ته ضرورت دےاومشکل نه خفاء لری کولولپاره طلب اوتامل دوانړوته ضرورت دےطلب اوتامل مطلب داچه ده یولفظ په باره غوراوفکراکی چه دالفظ په کمه معنوکی استعمالیګی دیته طلب وایی اوبیادی لفظ باره کی داغور اکی چه دلته ددی لفظ کمه معنه صحیح کیګی دیته تامل وایی ۔ بل فرق په خفی اومشکل کی دادےچه یوسړےخپل لباس اوحلیه بدله کی اویوځایی کی پټ شی داخفی شواوچه خپل لباس اوحلیه بدل کړی اوپه خپل امثال کی پټ شی نودامشکل شونوده اول لپاره طلب ته ضرورت دےچه دامعلومه کی چه دےپه کم طرف باندی تلےاودویم لپاره طلب اوتامل دوانړوته ضرورت دےچه بیاتامل اکی چه دےامثال کی هغه کوم یودےونظیره **فی الاحکام** دی سره مثال ذکرکوی ده مشکل چه یوسړےقسم اکی چه زه به سالن نه خورم نوداکلام دده ظاهردےپه باره ده سرکی اوده کهجوروشربت کی نوکه ده داخوړه نوحانث دےاوداکلام دده مشکل دےپه باره ده غوخی پنیراوانډی کی نووس دی باره کی اول طلب اوبیاتامل ته ضرورت دےنوده امام صیب په نزباندی ادام هغه سه ته وایی چه ده روټی نه بغیرنشی خوړلےکیدےنودامعنه ده ایدام په غوخه انډه پنیر کی نه مندلےکیګی دی وجه نه ددی په خراک سره داسړےنه دےحانث ۔ **ثم فوق المشکل المجمل** دی سره بیان ده مجمل کوی مجمل هغه لفظ ته وایی چه په دیکی مختلف معنواحتمال وی دی وجه نه په مجمل کی خفاء ده مشکل نه زیاته وی ځکه مشکل نه خفاء په طلب اوتامل سره لری کیګی اومجمل نه خفاء صرف په بیان ده متکلم سره لری کیګی ۔ **ونظیره فی شرعیات** دی سره مثال ذکرکوی ده مجمل چه **وحرم الربوا** کی ربواپه معنیٰ ده مطلق زیادت سره ده اوددی مختلف صورتونه دی اوداظاهره ده چه ټول صورتونه ددی نه دی ناجایزنوبیادیکی کمه صورتونه حرام دی ده هغی تفصیل په حدیث ده نبی علیه السلام کی راغلےدے۔

**ثم فوق المجمل فی الخفاء المتشابه** دی سره بیان ده متشابه کوی چه متشابه هغه لفظ دےچه ددی معنی مراده نه په طلب سره اونه په تامل سره معلومیګی اونه په دنیاکی ددی ده متکلم ده طرفه ددی ده وظاحت کولوسه امیدوی دی وجه نه په متشابه کی خفاء ده مجمل نه زیاته وی ځکه ده مجمل نه خفاء په بیان ده متکلم سره لری کیګی اوده متشابه معنیٰ مراده ده بیانولوامکان په دنیاکی نه وی ۔ ددی مثال لکه حروف مقطعات ده سورتونوپه اول کی ۔

## فصل فیمایترک به حقایق الالفاظ

دی فصل کی هغه ځایونه ذکرکوی چه هلته معنیٰ حقیقی پریخودےشی هغه پنځه ځایونه دی اول عرف دےبیایودےعرف عام اوبل دےعرف خاص عرف عام یعنی ده ده عام خلقوعرف اوعرف خاص یعنی ده یوخاص جماعت عرف هرکله چه عرف کی یولفظ ده حقیقی معنی په ځایی باندی په بله معنیٰ کی مشهوروی نودغه مشهوره معنیٰ به اغستےشی اوحقیقی معنیٰ به پریخودیشی ځکه چه احکام ثابتیګی ده الفاظ نه اولفظ په هغه معنیٰ باندی دلالت کوی کمه چه ده متکلم مرادوی اوکمه معنیٰ چه عرف کی مشهوره شی دادلیل دےددی چه دغه معنیٰ ده متکلم مراده ده ۔ **مثاله لوحلف** دی سره مثال ذکرکوی ددی

چہ دہ عرف دہ وجہ نہ حقیقی معنیٰ پریخودیشی چہ یوسړی قسم اکوچہ **لایشتری راسا** زہ بہ سرنہ اخلم نودلتہ بہ دہ سرنہ مرادھغہ وی چہ کمہ عرف کی خرسیګی حکہ حقیقت کی سرنہ مرادده مرغی اوکوتری سرھم دےخوھغہ خرسیګی نہ دی وجہ نہ دغہ معنی پریخودیشی ۔ دارنګی یوسړےقسم اکی **لایاکل بیضا** زہ بہ انډہ نہ خورم نودی سرہ مرادبہ ھغہ انډہ وی چہ کمہ عرف کی خوړلےکیګی ځکہ حقیقت کی انډہ دہ مرغی اوکوتری وغیرہ ھم مراددہ خوھغہ دلتہ نہ دہ مرادځکہ عرف کی ھغہ نہ خوړلےکیګی دی دوانړومثالونوکی دہ عرف دہ وجہ نہ دہ لفظ معنی حقیقی ټول افرادا‌ګرکہ مرادنہ ووخوبعض افرادمرادوولکہ دہ سرنہ مراد بعض سرونہ وودغسی انډی نہ مراد ھم بعض وی اولفظ خپل معنیٰ موضوع لہ پہ بعض افرادکی استعمالول تہ حقیقت قاصرہ وایی دی وجہ نہ داضروری نہ دہ چہ کلہ دہ لفظ نہ معنیٰ حقیقی نشی اغستےنوخامخابہ معنیٰ مجازی اخلی ځکہ کلہ حقیقت قاصرہ ھم اغستےشی حقیقت قاصرہ اغستومثال لکہ یوسړےنذراکی دہ حج نوپہ دہ باندی دغہ معین متعارف حج لازم دےیایوسړےنذراکی دہ پیادہ تلوبیت اللہ تہ نوپہ دہ باندی ھم دغہ معین حج لازم دےیایوسړےنذراکی چہ زہ بہ پہ خپلہ کپړہ پہ حطیم وھم نودینہ مرادھم مطلق کپړہ وھل نہ دی بلکہ پہ دہ باندی حج لازم دے ۔

## **والثانی قدتترک الحقیقة**

دی عبارت سرہ دویم مقام ذکرکوی چہ ھغی سرہ دہ لفظ حقیقی معنیٰ متروک کیدیشی اوھغہ نفس کلام دےیعنی کلہ دہ نفس کلام دہ وجہ نہ دہ لفظ حقیقی معنی ترک کیدیشی ځکہ لفظ پہ ھغی افرادوباندی دلالت کوی چہ پہ ھغی باندی معنی دہ لفظ مکمل صادقیګی اوکمہ افرادکی چہ معنیٰ دہ لفظ دہ نقصان سرہ موجودیګی پہ ھغی باندی دغہ لفظ نہ صادقیګی ددی مثال لکہ یوسړےاوایی چہ **کل مملوک لی فھوحر** دی کلام کی لفظ دہ مملوک مطلق دےمراددینہ فردکامل دےیعنی ھغہ غلام مراددےچہ ھغہ من کل الوجوہ مملوک یی دی وجہ نہ مکاتب اومعتق البعض نہ دےازادځکہ دوی من کل وجہ مملوک نہ دی بلکہ من وجہ مملوک دی اومن وجہ ازاددی ځکہ چہ دوی کی مولیٰ تصرف نشی کولےلکہ ددوی خرڅول یاھبہ کول یامکاتبے وینځی سرہ وطی کول ۔ بیاپہ دی مسئلہ باندی چہ مکاتب من کل الوجوہ مملوک نہ یی یوہ مسئلہ تفریع کوی ھغہ داچہ کہ چرتہ دہ مکاتب غلام سرہ دہ مالک لورنکاح اکی اودہ مالک دہ مرګ نہ روستہ ددی مکاتب وارثہ دغہ لوریی شوہ نوددوی نکاح نہ دےمات ځکہ کہ بالفرض مکاتب من کل الوجوہ مملوک وےنوددوی دانکاح بہ فاسدوہ ځکہ کلہ چہ احدالزوجین دہ بل مالک شی نوددوی نکاح ماتیګی ۔ البتہ مدبراوام ولدہ ددی کلام سرہ ازادیګی ځکہ دی دوانړوکی ملک کامل وی یعنی مولیٰ پکی تصرف کولےشی **وانماالنقصان** سرہ جواب ذکرکوی دہ یواعتراض چہ ھرکلہ مدبراوام ولدہ مملوک کامل دی نودوی بیاپہ کفارہ کی ازادول ولی نہ دی صحیح ددی جواب دادےچہ مدبراوام ولدہ کامل مملوک دی البتہ دوی کی رقیت ناقص دےځکہ ددوی غلامی صرف دہ مولیٰ دہ ژوندپوری دہ چہ کلہ ھم مولیٰ وفات شونودوی بہ ازادوی **وعلیٰ ھذاقلنا** دی سرہ دامسئلہ ذکرکوی چہ مخکی نہ دامعلومہ شوہ چہ مکاتب مملوک کامل نہ دےالبتہ رقیت پکی کامل دےدی وجہ نہ مکاتب پہ کفارہ دہ یمین اوظھارکی ازادولےشی اومدبر،ام ولدہ کی ملک کامل دےالبتہ رقیت پکی ناقص دےځکہ رقیت ددوی دہ ژونددہ مالک پوری دےاودہ مکاتب رقیت پہ مرګ دہ مالک باندی نہ ختمیګی دی وجہ نہ

مدبر،ام ولده په كفاره ده يمين اوظهاركى نشى ازادولےوجہ داده چہ ايت كى فتحريررقبة كى تحريرمطلق ذكردےمرادكامل تحرير دےاوكامل تحريركامل رق غواړى ۔

## **الثالث قدتترک الحقيقة**

دى عبارت سره مصنف دريم مقام ذكرچہ هغى سره ده لفظ حقيقى معنىٰ متروک كيديشى اوهغہ دےسياق اوطرزده كلام يعنى ده كلام نہ مخكى ياروستہ لفظى قرينى ده وجہ نہ ده لفظ حقيقى معنى پريخوديشى بيامصنف ددى دپاره ٦ مثالونہ ذكركړى دى اول داچہ مسلمانانوده كافروده قلعہ محاصره كړى وه اويومسلمان يوكافرتہ اوايى چہ **انزل** نودغہ كافرتہ بہ امن وى وس دده قتلول جايزنہ دى داده انزل حقيقى معنى ده اوكہ دغہ مسلمان ورتہ اوايى چہ **انزل ان كنت رجلا** وس دلتہ دا ان كنت رجلا داسى لفظى قرينہ ده چہ ددى ده وجہ نہ ده انزل كمہ حقيقى معنىٰ ده هغہ نشى اغستےنودغہ كافرتہ پہ دى باندى امن نہ حاصليګى ۔ دويم مثال دا **ولوقال الحربى** يعنى چہ قلع كى يوحربى كافرمسلمان تہ اوايى چہ الامان الامان يعنى مالہ امن راكہ اومسلمان ورتہ وايى الامان يعنى تالہ امن دےنودى كافرتہ امن حاصل شوالبتہ كہ مسلمان ورتہ وايى الامان ستعلم ماتلقىٰ غداولاتعجل حتىٰ ترىٰ وس ورتہ امن نہ دےحاصل ځكہ دےالامان سره دانورالفاظ لفظى قرينہ ده پہ دى باندى چہ الامان نہ حقيقى معنىٰ نشى اغستےـدريم مثال **ولوقال اشترلى جارية** يوسړےبل تہ وايى چہ مالہ يووينځہ واخلہ چہ زماخدمت كوى نوجارية پہ اعتبارده حقيقى معنىٰ سره ہرقسم ونځى تہ شامل دےخوده ورسره داقرينہ ذكركړه چہ لتخدمنى دادلالت كوى پہ دى  باندى چہ جارية نہ مراد حقيقى معنى نہ ده چہ هرقسم وينځى تہ شامل يى كہ معذوره وى اوكنہ بلكہ هغہ وينځہ مرادده چہ خدمت كولےشى نوكہ وس دغہ وكيل معذوره وينځہ واغستہ دابىٍ بہ ددغہ سړى ده طرفہ نہ وى ـڅلورم مثال ولوقال اشترلى جارية حتىٰ اطاها كہ يوسړى بل تہ اوى چہ مالہ داسى وينځہ واخلہ چہ زه ورسہ وطى كومہ نودلتہ هم جارية پہ اعتبارده حقيقى معنىٰ سره هرقسم وينځى تہ شامل ده خوده ورسہ قرينہ ذكركړه چہ اطاها ده دى وجہ نہ ده جارية نہ مراد صرف هغہ وينځہ ده چہ كمى سره دده وطى جايزوى ـوس كہ دى وكيل ده لہ دده رضعى خور واغستہ نودابيع بہ ددى سړى ده طرفہ نہ وى ځكہ ده رضعى خورسره وطى حرامہ ده ۔ پنحم مثال